صدای طالبان

مجله صدای طالبان 02
ربیع الاول ۱۴۴۵ ہ ق بمطابق ستمبر ۲۰۲۳ ء







که علماء کرام پارلمان ورته پرېږدي نو!؟؟

مجاهدین ولې نورو سیمو ته په کتو په پښتونخوا کې ډېر فعال دي؛ د یوې پوښتنې او اندېښنې ځواب

عدم تشدد او جمهوریت

UMAR MEDIA
@umarmedia
http://t.me/TTPmagazine http://www.umarme-

فهرست

سرلیکنه

د افغانستان اسلامي امارت –
د پاکستان اسلامي امارت

دوه کاله وړاندې د افغانستان اسلامي امارت قدرت په نېشه کې ډوبې امریکا او ناټو ته یو تاریخي ګزار ورکړ، دا یو داسې ګزار و چې د وخت فرعونیان یې اړ کړل، چې له دې وروسته باید د تل لپاره د دین مبین اسلام په وړاندې سر ټیټې اووسي.

د حق له لوري د باطل په مخ دا یو داسې تاریخي او نه هېرېدونکی تندریز ګزار و، چې د ټولې صلیبي او کفري نړۍ شان، دبدبه او غرور یې له خاورو سره خاورې کړ. الحمدللّه موږ وینو چې د افغانستان اسلامي امارت د یرغلګرو له وتلو راهیسې په پرله پسې توګه خپلو هېوادوالو او ټول اسلامي أمت ته په عملي توګه د پاک او سپېڅلي دین "شریعت" په ښودلو او نفاذ بوخت دی.

که څه هم د اسلامي امارت له بیا تاسیس څخه را پدېخوا یوازې دوه کاله تېرېږي، خو د جرمونو د مخنیوي، د امنیت د ټینګښت، د اقتصادي خپلواکۍ، د عدالت د تامین او همداراز د خلکو د هوساینې او اقتصادي پرمختګ یون ډېر ګړندی دی، دا هرڅه د هغو پر مخ یوه درنه څپېړه ده، چې ویل به یې: د دې ډېره ورو او پګړیوالو دومره حیثیت او استعداد چېرته دی چې د یو هېواد دولتي نظام دې وچلوي. خو طالبانو په افغانستان کې د مثالي نظام په رامنځته کولو سره ټولې نړۍ ته په عملي توګه دا دعوی اثبات ته ورسوله، نړیوال یې د عملي منبر له لارې مخاطب کړل، داسې چې: له پګړۍ والو او ډېره ورو پرته بل هیڅوک له دوی ښه دولتي نظام نشي چلولای، او نن ورځ ټوله نړۍ پدې مجبوره ده، چې دا خبره ومني.

بل لور ته بیا زموږ ګران وطن پاکستان دی، چې له تېرو ۷۶ کلونو ور باندې ظالم او جابر پوځ او باطل جمهوري نظام حاکم دی، هغه چې پر ظلم او ستم، قتل او وژنې، فساد او همداراز په هر غیر قانوني فعالیت او جرم کې ښکېل دي.

د دې پوځ د ناکامو غیر شرعي او ظالمو بې دینه پالیسیو له امله نن ورځ د پاکستان ولسونه په یو بد حالت کې قرار لري، تر دې چې له هر دریم غریب وګړي څخه د خولې مړۍ (نوړۍ) لا اخیستل شوې ده، ناچاره مور او پلار له غربت څخه دومره تنګ شوي چې هره ورځ د خپلو کوچنیو او معصومو بچیانو د وژلو او ځان وژنې نوې پېښې رامنځته کېږي، له بنسټیزو اخلاقو څخه بې برخې دغه پوځي جنرالان او سیاسي طبقات چې د پاکستان په خاوره قابض دي، لا هم د دې هېواد د خزانو او ملي منابعو په لوټلو او د خپلو هېوادوالو د وینو په زبېښلو بوخت دي. له دې ټولو خواشینوونکو او ستونزمنو شرایطو سره سره د هیلو یو امید "تحریک طالبان پاکستان" لا هم د عمل په ډګر کې شتون لري، چې مجاهدین او لارویان یې د خپلو وینو او مالونو په قرباني کولو سره د دې هېواد تقدیر راتلونکی روښانه لیکي او دا هېواد خپل اصل مقصود ته ګرځوي.

د تحریک طالبان پاکستان په ټولنیز قوت، نظامي ځواک، سیاسي حاکمیت، دعوتي ډګر، فکري منهج او جهادي عملیاتو کې ورځ په ورځ د پام وړ مثبت بدلون او پرمختګ لیدل کېږي، همدا تحریک به د هغه فاتح لښکر په شکل کې را څرګندېږي، چې په دې هېواد باندې به د افغانستان د اسلامي امارت په څېر د اسلامي نظام د شرعي منهج او اصولو تر چتر لاندې اسلامي حکومت قائم کړي. د پاکستان په پاکه خاوره باندې به د عدل و انصاف، سولې او ورورولۍ، اقتصادي ثبات او د عامه سوکالۍ او پرمختګ یوه نوې فضا رامنځته او دې مظلومو ولسونو ته به له خوښیو ډک راتلونکی ور وبښي.

هغه وخت به بیا دا سیمه د پاکستان د اسلامي جمهوریت پر ځای د پاکستان اسلامي امارت په نوم بلل کېږي. إن شاء اللّه تعالی

د شهید قومندان
طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه
ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

لیکوال: سیف اللّٰه احرار

زوکړه او پیدایښت: د اسلامي أمت دا نوموتی اتل، د عظمتونو څهره، د استقامت غر، ستر غیرتي او جهادي شخصیت د وخت خالد إبن ولید محترم قومندان طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه د کوزې پښتونخوا د آدم خیلو د درې د شیراکي د کلي د حاجي حبیب خان شهید رحمه اللّٰه په کور کې دې فاني نړۍ ته سترګې را غړولې وې.

زده کړه او تعلیم:

عصري علوم: شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه خپلې لومړنۍ عصري زده کړې تر ترډ ایئر (لیسانس) پورې په خپل پلرني کلي کې ترسره کړې.

دیني علوم: شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه خپلې دیني زده کړې تر دریمې درجې پورې د خپلې سیمې په مختلفو مدرسو کې ترسره کړې.
چې د دیني علومو د ترلاسه کولو په سلسله کې یې د لاهور له مشهور او نامتو دیني عالم مفتي محمد حسن څخه هم د نحوې ځینې کتابونه ولوستل.

د جهاد پیل:
شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه غوښتل چې خپلې دیني زده کړې بشپړې کړي خو د اسلامي أمت روانو ناخوالو او مظلومیت اجازه ورنکړه، چې نور په مدرسه کې کېني، هماغه و چې حالاتو او انقلابونو ته په کتو سره یې د جنوبي وزیرستان په مرکز وانه کې له استاد فیض رحمه اللّٰه څخه یې د حربي امورو او بارودو لومړنۍ مهمې اساسي زده کړې وکړې. او د ژوند تر پایه یې د اسلام د دښمنانو په وړاندې سپیڅلې جهادي مبارزه وکړه.

صفات او ځانګړتیاوې:

په شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه باندې دینداري او تقوی دومره غالبه وه چې د دین اسلام د هرې شعبې او څانګې هېڅ یو عمل یې له لاسه نه ورکاوه.

د امت او خپل ځان د اصلاح په موخه یې د دعوت او تبلیغ په مبارکه لار کې هم وخت لګولی و، او کوښښ به یې کاوو چې خپل ډېر وخت په دعوت او تبلیغ کې مصرف کړي.

د تصوف او تزکیه نفس په برخه کې یې د شیخ الحدیث مولوي زکریا رحمه اللّٰه له خلیفه مجاز مفتي مختار الدین شاه صاحب د بیعت له کولو وروسته د مدارجِ اخلاق د معیارونو

په جوړولو به همېش بوخت و.
شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه د صحابه کرامو رضي اللّٰه تعالی عنهم د عظمت او ناموس د دفاع دنده به همېش په قول او عمل سره ترسره کوله.

اسارت:

کله چې د صحابه کرامو رضي اللّٰه تعالی عنهم د دښمنانو له لوري د شهید مولوي حق نواز جنګوي رحمه اللّٰه د شهادت پېښه رامنځته شوه، نو په غبرګون کې یې شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه د هغه وخت د حکومت په وړاندې سخت مقاومت وکړ، چې له سخت مقاومت وروسته جابر حکومت نوموړی رحمه اللّٰه د صحابه کرامو رضي اللّٰه تعالی عنهم د دفاع په خاطر بندي کړ. طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه فطرتاً ډېر هوښیار، ځیرک، شجاع او د یو تنظیمي جوړښت د صلاحیت څښتن و، د مجاهدینو په هر ډول روزنې سره یې یو داسې با استعداده ځواک جوړ کړی و چې له هر ډول سختو حالاتو سره یې مبارزه کولای شوه، طارق منصور رحمه اللّٰه ته د متعال ذات له لوري د ورکړل شویو مهارتونو او صفتونو له امله نوموړی رحمه اللّٰه د مجاهدینو یو تر ټولو محبوب او مشفق مشر په توګه پېژندل کېده.

هر مجاهد به یې په مجلس کې د ناستې لپاره تږی و، د څو میاشتو د تشکیل ستړیو مجاهدینو به د نوموړي رحمه اللّٰه په مجلس کې له ناستې څخه دومره راحت او خوند احساساوو چې ټوله ستړیا به یې له منځه تلله. د طارق منصور رحمه اللّٰه دا تمنا وه چې هر مجاهد ته هر ډول فکري، عقیدوي او نظامي زده کړې ورکړې، هماغه و چې خپل ټول ملګري یې د ښاري جګړې، انفجاراتو، الیکټرونیکي وسائلو، رسنیو او همداراز د جهاد اړوند په ټولو اړینو زده کړو سمبال کړي وو.

د جهادي مبارزې پیل:

شهید قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه په ۲۰۰۵م کال کې د شهید قومندان عبداللّٰه محسود رحمه اللّٰه په مشرۍ کې د محسودو په سیمه کې د پاکستاني اجیرو او ظالمو ځواکونو پر ضد جهاد کې مسلح ګډون وکړ. د افغانستان په جهاد کې یې هم برخه اخیستې وه، د افغانستان په خاوره د صلیبي ځواکونو د اشغال په وړاندې یې د افغانستان د جنوبي ولایت کندهار، چې په هغه وخت کې د صلیبي اشغالګرو لپاره سره تبۍ ګرځېدلې وه، په محاذونو کې هم برخه واخیسته او تر ډېره پکې په ډېره میړانه او شجاعت سره وجنګېد، له هغه وروسته بېرته خپلې خاورې ته راستون او د شهید قومندان حضرت علي رحمه اللّٰه په مشرۍ کې یې د هند د غزا پیل وکړ.
د شهید قومندان حضرت علي رحمه اللّٰه تر شهادت وروسته د ملګرو په خواهش، مشورې او غوښتنې د دې ډلې د امیر په توګه وټاکل شو.

د اسلامي امارت دفاع:

شهید قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه به د اسلامي امارت په دفاع کې د اسلامي امارت په مشورو او او مرسته د امریکایي صلیبي اشغالګرو او ناټو ځواکونو پر مهمې اکمالاتي کرښې په پرله پسې توګه داسې سخت او تندریز بریدونه کول، چې په ډېرې سختۍ سره به دښمن د خپل اکمالاتي کاروان دوه یا درې موټرونه خپلو ځایونو ته روغ رمټ ورسول، پاتې ټول موټرونه او کاروان به یې د شهید قومندان

طارق منصور رحمه اللّٰه د تندريزو

ګزارونو ښکار او د اور په لمبو کې به له خاورو

سره خاورې شول.

بالاخره د اسلامي امارت په دفاع کې يې صليبي دښمن

ته داسې ګزارونه ورکړل چې دښمن دې ته اړ شو چې د

کوهاټ لاره پرېږدي، هماغه و چې ځبرځواکي امريکا او

ناټو خپله اکمالاتي کرښه د ميانوالي او اسلام اباد پر لور

وغځوله.

جهادي کارنامې او قربانۍ:

شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه به تل د

دښمن په وړاندې لوی فکر او پلان درلود، له همدې

امله به يې په مختلفو سيمو کې د مجاهدينو لپاره د

خوندي مرکزونو، پټنځايونو او معسکرونو بندوبست

کاوه. شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه په

۲۰۱۰م کال کې د پښتونخوا ايالت د مردان په سيمه

کې د ختم نبوت په منکرينو (قاديانيانو) باندې يو

تندريز استشهادي بريد ترسره کړ، چې په ترڅ کې يې د

لسګونو په شمېر د ختم نبوت منکران ووژل شول.

د خيبرپښتونخوا په پوليسو يې هم ګڼ شمېر بريالي

بريدونه ترسره کړي وو چې پکې د ډي آيي جي (د خيبر

پښتونخوا امنيه قومندان) ملک سعد، ايس ايس پي

هلال حيدر، ايس پي کلام شاه، د جعلي پوليسو د

مقابلو لپاره مشهور وحشي انسپکټر اجمير شاه په

شمول ګڼ شمېر اجير افسران ټپيان او وژل شوي وو.

شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه د هغه وخت

د ترټولو بدنامې ادارې ايف سي يو تن مشر افسر

کماندنټ ميجر جنرال صفت غيور هم په نښه کړ.

د تحريک طالبان پاکستان مؤسس او زعيم امير محترم

شهيد بيت اللّٰه محسود رحمه اللّٰه له هغه سره بې

حده مينه درلوده، او تل به يې ويل:

لکه څنګه چې اميرالمؤمنين ملا محمد

عمر مجاهد رحمه اللّٰه ټول اسلامي

امارت د محسن أمت شهيد شيخ

اسامه رحمه اللّٰه په خاطر قربان کړ،

همداراز شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه هم

زما په يو امر په دره ادم خېلو کې پر پاکستاني پوځ

سخته جګړه پيل او د دره ادم خېلو سيمه يې د هغوی

لپاره د جهنم يوه کنده وګرځوله. لکه څنګه چې د

شمالي وزيرستان د ميرانشاه په سيمه کې د مجاهدينو

په لاس د زماني د بدنام او منحوس غل «حکيم خان»

وژل کېدل په وزيرستان کې د جهاد د بېدارۍ او د

مجاهدينو د مقبوليت لامل وګرځېد، همدغه شان

د دره ادم خېلو په سيمه کې هم د شهيد قومندان

طارق منصور رحمه اللّٰه په مشرۍ طالبان هغه مهال

راڅرګند شول کله چې د آسيا په کچه د مخدره موادو

لوی قاچاقبر چرګ بدمعاش د طالبانو له خوا ووژل شو.

د چرګ له وژل کېدو وروسته د چرګ ملګرو چې يوه قوي

مافيايي کړۍ وه، په مجاهدينو بريد وکړ چې له امله يې

څو تنه مجاهدين سرسري ټپيان شول. له دې وروسته

د شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه په مشرۍ

مجاهدينو د دغې مافيايي کړۍ پر ضد پرېکنده عمليات

ترسره کړل او له درې ورځنيو سختو جګړو وروسته ياده

مافيايي کړۍ په بشپړه توګه ختمه شوه، هماغه و

چې ولس د ارام ساه واخېسته او له سيمې څخه نشه

يي توکي ختم او مجاهدينو په ظاهري او معنوي لحاظ

ستره بريا ترلاسه کړه.

د شهيد قومندان طارق منصور رحمه اللّٰه په مشرۍ

مجاهدينو «پېټر» نومې يو انګرېز ژوندی ونيو،

او پدې سره يې ډارن او بزدل دښمن ټولې نړۍ

ته رسوا کړ.

د یاد انګریز د خوشي کولو په بدل کې حکومت د خپل شرم د پټولو لپاره د شل ملیارده روپیو وړاندیز وکړ، خو شهید قومندان طارق منصور رحمه اللّه د دوی دا وړاندیز رد او د تبادلې په صورت کې یې د خپلو ګلورو ملګرو د خلاصون غوښتنه ترې وکړه، خو کله چې یې غوښتنه ونه منل شوه نو نوموړي رحمه اللّه هم ځمکه د پېټرو په وینو خړوبه کړه.

شهید قومندان طارق منصور رحمه اللّه تل د دښمن لپاره درد سر جوړ شوی و. دښمن به یې له زورورو بریدونو څخه ډېر وېرېده او په وار وار یې د نوموړي رحمه اللّه د کامیابو جنګي ستراتیژیو اعتراف کړی و.

انتقامي جذبه:

شهید قومندان طارق منصور رحمه اللّه له بې ساري انتقامي جذبې څخه سرشاره او برخمن و. هیڅکله یې دښمن بې له غچ اخیستو نه دی پرې ایښی.

د لال مسجد د غمیزې په انتقام کې یې د پاکستان پر اجیرو او ناپاکو امنیتي ځواکونو کڼ شمېر تندریز بریدونه ترسره کړل، چې د کوهاټ په کېنټ (کنډک) کې پر پوځ او په پنډۍ کې د آئي ایس آئي پر بسونو ستر استشهادي بریدونه یې د یادولو وړ دي.

یو ځل د پاکستان حکومت د یوه مجاهد یووولس کلن زوی ونیو، نو شهید طارق منصور رحمه اللّه د دې پېښې مسئول ډي ایس پي (امینه قومندان) په نښه او د د دې ظالم ډي ایس پي (امنیه قومندان) په قدم تلونکو وحشي جنرالانو لپاره یې د عبرت درس وګرځاوه. د نوموړي رحمه اللّه یو تن نږدې ملګری وایي: چې یو ځل د پاکستان پوځ د یو مجاهد د مېرمنې او ماشومانو د بندي کولو هڅه وکړه، خو په هغه وخت کې یې د سیمې د مېرمنو له لوري په سمدستي توګه دا بزدله هڅه په تبرګیو او ډنډو سره ناکامه کړای شوه، خو کله چې پدې شرمناکه پېښه طارق منصور رحمه اللّه خبر شو، نو سخته غصه یې څرګنده کړه او د سیمې د با اثره شخصیتونو، قومي مشرانو او متنفذینو په واسطه یې دښمن ته پیغام ور ولېږه، چې که چېرته په راتلونکې کې مو داسې کوم اقدام یا هڅه وکړه نو زمونږ غبرګون به ډېر سخت او خطرناک وي، دښمن پوهېده چې شهید طارق منصور رحمه اللّه چې څه وایي هغه بیا خامخا ترسره کوي، هماغه و چې بزدل، ظالم وحشي او ډارن دښمن هیڅکله بیا د داسې کوم ناوړه کار جرأت ونکړ.

د شهید قومندان طارق منصور آفریدي رحمه اللّه یو نږدې مجاهد ملګری ذو الفقار د نوموړي رحمه اللّه په اړه وایي: یو ځل دښمن د یو شهید مجاهد د جسد له ورکولو څخه انکار وکړ، نو طارق منصور رحمه اللّه یې په انتقام کې پر دښمن برید وکړ او د عسکرو سرونه یې پرې او له ځانه سره راوړل، د بې سره جسدونو په لیدلو سره پر پوځ واویلا ګډه شوه او شهید طارق منصور رحمه اللّه ته یې بیرته د سرونو ورکولو وړاندیز وکړ او په پایله کې یې د بیا ځلې لپاره د مجاهد د جسد له ایسارولو توبه وویسته.

د تحریک طالبان پاکستان د لومړني امیر او مؤسس شهید بیت اللّه محسود رحمه اللّه د ډرون په برید کې تر شهادت وروسته طارق منصور رحمه اللّه د هغه د غچ اخیستنې عزم وکړ.

له څه وخت وروسته یې بالاخره د افغانستان د ننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار

کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو پر اډه د اسلام د لارې د ځو تنو اتلو فدایانو په وسیله تندریز استشهادي برید ترسره کړ.
کله چې د هنګو ضلعې د دوابې په سیمه کې د دښمن له لوري د شهید طارق منصور رحمه اللّٰه ځو تنه مجاهدین ملګري په ډېرې بې رحمۍ سره په شهادت ورسول شول، نو په بدل کې یې انتقاماً طارق منصور رحمه اللّٰه په هماغه پوسته استشهادي برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې یاده پوځي قرارګاه له خاورو سره خاورې او ظالمان یې خپل انجام ته ورسېدل.
شهید طارق منصور آفریدي رحمه اللّٰه د پوځ، پولیسو، روافضو قادیانیانو او همدارز د ناټو د صلیبي اشغالګرو په شمول د هر باطل قوت په مقابل کې مېدان ته راوتلی مجاهد شخصیت و، او د ژوند تر پایه یې پر حق د قربانېدو او د باطل د له منځه وړلو ثبوت ورکړ.
شهادت:
بالاخره د ۲۰۱۲م کال د روژې مبارکې په دویمه نېټه یې د خېبر پښتونخوا په قبائلي سیمې خېبر ایجنسۍ کې د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ او له دې فاني نړۍ د تل لپاره وکوچېد.
نحسبه کذالک واللّٰه حسیبه

عمر او عمير؛ دوه جنتي ياران

ليکوال: جبران هاشمي

د اسلام دوهم خليفه امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه په مسجد نبوي کې ناست او د مسلمانانو د ورځنيو چارو په حل بوخت و، يو دنګ ځوان؛ چې پښتان او مخ يې په دوړو سپېره وو، خيرن کالي يې اغوستي او پښې يې هم څو ځايه شلېدلې وې، يوه اوږده لکړه (امسا) يې په لاس کې وه او څو لوښي او لرګي يې په څادر کې تړلي په شاکړي وو، چې جومات ته را ننوت.

امير المؤمنين او ناستو کسانو ته يې سلام واچاوه او په يو کونج کې غلی کېناست، امير المؤمنين او ناستو کسانو د مسافر ګومان پرې وکړ، د سلام ځواب يې ورکړ او بېرته په خپلو ورځنيو کارونو کې بوخت شول، ځوان هم ناست و، ترڅو کله ګونه کمه شي او ده ته له امير المؤمنين سره د خبرو فرصت پيدا شي، د خلافت په دربار کې خلک يو څه کم شول، عمر فاروق رضي اللّه عنه مسافر او سېره مخ ځوان ځانته راوغوښت او د حاجت پوښتنه يې ځيني وکړه.

ځوان ورته وويل: امير المؤمنينه ! زه تاسو راغوښتی وم، څو ورځې وړاندې ستاسې ليک ما ته را ورسېد، او دا دی زه ستاسې له فرمان سره سم حاضر شوم.

امير المؤمنين حضرت عمر فاروق ډېر فکر وکړ، خو داسې څه يې په ياد نه شول، چې دغه ځوان ته دې يې کوم ليک استولی وي، نو په خورا تعجب يې ترې وپوښتل:

ځوانه ! ومې نه پېژندلې ! زما نه دي په ياد چې تا ته مې کوم بلنليک در استولی وي.په دوړو او خاورو ککړ ځوان خپل شلېدلی ګرېوان سره را ټول او په ډېره عاجزۍ سره يې د خدای جل جلاله د رسول وفادار ملګري ته وويل:

امير المؤمنينه ! زما نوم عمير بن مسيب دی، او زه تېر کال ستاسې له لوري د حمص والي ټاکل شوی وم، تېره اوونۍ د کلني احتساب په اړه ستاسو فرمان ما ته را ورسېد، او دا دی زه له هغه سره سم د خپل مال، اسباب او هر څه سره يوځای حاضر شوم.

امير المؤمنين حضرت عمر رضي اللّه عنه د دې خبرو په اورېدو سره سترګې د ځوان په سترګو کې ښخې او ګوته يې په غاښ کې ونيوله او څو شيبې يې په ځير ځير د هغه حالت ته کتل، امير المؤمنين ته ور په ياد شو چې تېر کال يې دغه ځوان د مسلمانانو په مشوره د شام د ښيرازه ولايت حمص والي ټاکلی و، هغه مهال چې دغه ځوان شام ته روانېده، نو د ښکلا، خوښۍ او شتمنۍ نښې يې په تنده کې له وړايه معلومېدې، د هغه د اغوستلو کالي په څو اوښانو بار وو، د تورو، زغرو او ډاليو حساب يې نه کېده، خو نن په داسې حال کې د مسلمانانو د امير په وړاندې ناست و چې د فقر، غربت او بې وزلۍ له امله له پېژندلو وتلی و، پښې او کالي

یې شلېدلي وو، څېره یې د بې خوبۍ او نه خوراک له امله تکه زېړه شوې وه، د اسلام خلیفه ورته وفرمایل : اللّٰه اکبر؛ عمیره ! ته چې مې تېر کال استولې، خورا پنډ، چاغ او ترو تازه وې، د مال او اسبابو حساب دې نه کېده، خو اوس دې په داسې حالت کې وینم چې درته کتلای هم نشم، خیر خو به وي؟ ولې په داسې حال یې؟

هغه ورته وفرمایل: چې امیر المؤمنینه! له دندې مخکې ما تجارت او سوداګري کوله او کله ناکله به ستاسو سره د خدای (ج) په لار کې جهاد ته تللم، ما ته خدای (ج) ښې ډېرې پیسې او شتمني راکړه، خو کله چې مو د مسلمانانو په دنده وټاکلم، نو د مسلمانانو د ښېګڼې په لاره کې مې ځان هېر کړ.

امیر المومنینه ! د حمص خلګ زکات او جزیه په مینه ورکوي، تېر کال مو په ملیونونو درهمه روپۍ بیت المال ته تحویل کړې، له محاصلو او نورو عوایدو لاس ته راغلې پیسې مو د هېواد او مسلمانانو په ښېرازۍ کې لګولي، په حمص کې مو لارې، کاروان سرایونه، ښارونه، بازارونه، کلاګانې، حمامونه، مدرسې او جوماتونه جوړ کړي دي، حمص ستاسو د خلافت تر ټولو ودان، ښېرازه او بډایه ولایت دی.

امیر المؤمنین ترې وپوښتل : د ځان لپاره دې د بیت المال څخه څه بندوبست کړی دی؟

عمیر بن مسیب ځواب ورکړ : امیر المؤمنینه ! د ورځې روژه یم، د شپې په اوبو روژه ماتوم او څو خرما او یا هم نیمه د جوارو ډوډۍ خورم، دغه په څادر کې غوټه لوټه او کنډولی مې د کور اثاثه دي، یو دغه څادر لرم، چې عورت پرې پټوم او یوه دغه لکړه، چې ځان پرې ساتم.

حضرت عمر رضی اللّٰه عنه د دې خبرو په اورېدو ژړغونی شو، دعمیر په حال یې غبطه راغله او خورا په زوره زوره یې په ژړا پیل وکړ او لاس یې داسې په دعا پورته کړ: اې اللّٰه (ج) ! زه شاهدي ورکوم عمیر پاک دی، خدایه ! ما په جنت کې له عمیر سره یوځای کړې، د عمیر سر یې ښکل کړ او د راتلونکي کال لپاره یې د بیا ځلې لپاره حمص ته د والي په توګه واستاوو.

دوهمه برخه

ليكوال: مولوي احمد جان

خارجي او افراطي فكر او جهادي تحريكات

د اهل السنة والجماعة امامانو، سلفو، علماء كرامو پدې وجه چې متعال ذات ورته د دين په مزاج باندې په اجتماعي توګه كامل فهم ور په برخه كړى دى، د تكفير په موضوع كې نهايت د احتياط څخه كار اخيستى دى، ډېرې داسې فرقې چې د هغوى عقائد كفريه دي، ليكن د تاويل په خاطر يې بيا هم د هغوى تكفير نه دى كړى، پداسې حال كې چې هغه تاويلات هم باطل دي.

لكه علامه شاطبي رحمه اللّٰه د خپل كتاب «الاعتصام» د ۲ جلد په ۲۱مه صفحه كې فرمايي: «وقد اختلف الأمة في تكفير هؤلاء الفرق أصحاب البدع العظمى، ولكن الذي يقوى في النظر ويحسب في الأثر عدم القطع بتكفيرهم، والدليل عليه عمل السلف الصالح فيهم».

هغه فرق ضاله (ګمراهې فرقې)، چې د غټو بدعاتو والا دي (يانې بدعات يې مكفره دي) لكه مرجئه، معتزله، روافض، جهميه، قدريه او خوارج وغيره) د دوى د تكفير په باره كې په امت كې اختلاف دى، ليكن قوي او مضبوطه خبره دا ده، چې سلف صالحينو د دوى تكفير نه دى كړى.

په دې وجه علامه نووي رحمه اللّٰه په خپل شرح د مسلم كې فرمايي: «ولا يكفر أهل الهواء والبدع». (جلد: ۱، صفحه: ۱۵۰)

يانې دا چې، د اهل الهواء والبدع تكفير نشي كېدلاى؛ او د سلفو په نيز د اهل البدع نه مراد خوارج، معتزله، قدريه او روافض وغيره فرقې دي، چې د دوى عقائد او افكار كفريه دي، ليكن د تاويلاتو په وجه يې تكفير ندى كړى.

ابن مفلح د ابن الجوزي الحنبلي رحمهما اللّٰه نه نقل كوي او فرمايي چې: «رأيت جماعة من العلماء أقدموا على تكفير المتأولين من أهل القبلة وأقبح حالاً من هؤلاء المكفرين قوم من المتكلمين كفروا عوام المسلمين». (الفروع لإبن المفلح، جلد: ۶، صفحه: ۴۲۸)

ژباړه: ما خو د علماء كرامو يو جماعت وليد، چې د اهل القبله نه يې د تاويل كونكو (خوارجو، روافضو، معتزله ؤ وغيرهم) تكفير كولو، يانې دا جرات يې كولو، خو د دې مكفرينو نه څه ډېر بدتره او ناكاره

خلق هغه دي، چې د عامة المسلمين تكفير كوي.
په دې وجه علامه ابن نجيم رحمه اللّه فرمايي:
«وينبغي للعالم أن لا يبادر بتكفير أهل الإسلام».
(البحر الرائق، جلد: ۵، صفحه: ۱۳۴)
او هم دغه شان علامه شامي رحمه اللّه فرمايي:
«لا ينبغي للعالم أن يبادر بتكفير أهل الإسلام».
(حاشية إبن عابدين، جلد: ۴، صفحه: ۲۳۰)
د تكفير په باب كې لويو علماء كرامو او اكابرينو همېش د احتياط څخه ډېر زيات كار اخيستى دى، او كم ازكم د توقف لاره يې اختيار كړې ده.
سطحي؛ كم عمره او غير فقيه حضرات په دې موضوع كې اكثره د ډېرې جلدۍ او بېړې ښكار كېږي، لكه امام قرطبي رحمه اللّه د خپل كتاب «المفهم» د ۲ جلد په ۱۱۱ صفحه كې فرمايي: «وباب التكفير باب خطير، أقدم عليه كثير من الناس فسقطوا، وتوقف فيه الفحول فسلموا، ولا يعدل بالسلامة شيئًا».
ژباړه: د تكفير باب ډېر خطرناك دى، ډېرو خلقو د تكفير په باب كې اقدام او جرأت وكړ، نو وغورځېدل، او پوهو او جيدو علماء كرامو پكې توقف وكړ، نو هغوى بچ پاتې شول، او د بچ پاتې كېدو سره هيڅ شى برابر نه دى.
څكه خو نبي عليه السلام درې ځل ارشاد وفرمايلو چې: «هلك المتنطعون (قالها ثلاثا)».
او چې په كومو موضوعاتو باندې پوهو او جيدو علماء كرامو جرأت او اقدام نه وي كړى، په هغه باندې جرأت او اقدام كول په معاشره كې ډېر زيات فساد پېدا كوي، لكه ابو عثمان الحداد المالكي رحمه اللّه فرمايي: «تقديم من أخر اللّه وتأخير من قدم اللّه فتنة في الأرض وفساد كبير». (ترتيب المدارک وتقريب المسالک للقاضي عياض رحمه اللّه، جلد: ۵، صفحه: ۸۲)

ژباړه: څوک چې اللّه وروسته كړي دي، هغه مخكې كول او څوک چې اللّه مخكې كړي دي هغه وروسته كول، دا په ځمكه كې ډېر زيات فساد او فتنې پېدا كوي.
ياني اكابر او لوى علماء مؤخر كول او د تكفير پشان په پُرخطره او سنګينو موضوعاتو كې اصاغرو، ځوانانو، كم عمره او داسې علماء كرامو ته رجوع كول، چې هغه دې مېدان كې اللّه وروسته كړي دي، ډېرې زياتې فتنې او فساد پېدا كوي.
د تكفير په موضوع كې بايد داسې احتياط وكړاى شي، لكه څرنګه مزاج چې د سلف صالحينو، اكابرينِ اسلام او فقهائې شريعت وو، څكه په تكفير كې په جلدې او بېړې كولو سره سرى د دين څخه وځي، څكه خوارج د تكفير په موضوع كې جلد باز (تلواريان) دي. نو رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم د دوى باره كښې فرمايي: «يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية». (رواه البخاري)
په دې وجه علامه ابن الهمام رحمه اللّه فرمايي:
«يقع في كلام أهل المذهب تكفير كثير، ولكنه ليس من كلام الفقهاء الذين هم المجتهدون، بل من غيرهم، ولا عبرة لغير الفقهاء». (فتح القدير، جلد: ۶، صفحه: ۱۰۰)
ژباړه: د اهل مذهب (يعني د حنفيو رحمهم اللّه) په كلام كې به ډېر تكفير واقع كېږي، ليكن دغه د فقهاوو او مجتهدينو كلام نه دى، بلكه د داسې چا دى چې مجتهد فقهاء كرام نه دي، نو دغه د غير مجتهدو فقهاوو كلام او تكفير ته څه اعتبار نشته.
مقصد د علامه ابن الهمام رحمه اللّه دا دى، چې د داسې چا تكفير لره اعتبار دى، چې هغه په فقه كې مجتهد وي. د دې څخه پرته دې موضوع كې د بل چا قول لره اعتبار نشته.

ابن الجزي المالکي رحمه اللّه فرمايي: کوم الفاظ د کفر چې په نصوصو کښې راځي، نو د هغې مختلف احکام دي: «فمنها ما هو کفر، ومنها ما هو دون الکفر، ومنها ما يجب في القتل، ومنها ما يجب فيه الأدب، ومنها ما لا يجب فيه شيء». (القوانين الفقهية لإبن جزي رح، صفحه: ۲۴۰)

ژباړه: بعضې کفر دي بعض د کفر نه لاندې دي، په بعضو کې قتل واجبيږي، په بعضو کې ادب واجبيږي، او په بعضو کښې هيڅ هم نه واجبيږي. او بيا وايي، چې د دې پوره تفصيل قاضي عياض رحمه اللّه په شفا کې کړې دی.

په دې وجه علامه ابن القيم رحمه اللّه فرمايي چې اهل السنة والجماعة په مجمل څيز باندې تکفير نه کوي بلکې تفصيل کوي: «وعليک بالتفصيل والتبيين فال قد أفسدا هذا الوجود إطلاق والإجمال دون بيان وخبط الأذهان والأراء کل زمان». (النونية، صفحه: ۵۲)

ژباړه: د هرې خبرې تفصيل او وضاحت کوه، ځکه خبره چې کله مطلقه او مجمله وي بغير د بيان نه، دې دواړو دنيا خرابه کړه او ګډوډ کړي يې دي ذهنونه، او رايې ګانې په هره زمانه کې.

په دې وجه علامه إبن تيميه رحمه اللّه فرمايي: چې تر څو يو څوک د اهل القبلة نه ګناه حلاله ونه ګڼي، ياني عقيده د تحليل ونه لري، په مطلق ارتکاب يې اهل السنة والجماعة تکفير نه کوي، هغه وايي: «لا يکفرون أحدًا من أهل القبلة بذنب». چې اهل السنة څوک هم د اهل قبلوؤ څخه په مطلق ارتکاب د ذنب سره نه کافروي. (مجموع الفتوی، جلد: ۲۰، صفحه: ۹۰)

مقصد دا دی چې تکفير يوه له خطر څخه ډکه او سنګينه موضوع ده، پدې کې جلدي او بېړه کول د اهل السنة والجماعة مزاج نه دی او اهل السنة اکابرينو همېشه په دې موضوع کې ډېر احتياط کړی دی، ځکه خو امام قرطبي رحمه اللّه فرمايي: «وباب التکفير باب خطير، أقدم عليه کثير من الناس فسقطوا، وتوقف فيه الفحول فسلموا، ولا يعدل بالسلامة شيئًا». ژباړه: د تکفير باب ډېر خطرناک دی، ډېرو خلقو په تکفير کې اقدام او جرأت وکړ، نو وغورځېدل، او پوهه او جيدو علماء کرامو پکې توقف وکړ، نو هغوی بچ پاتې شول او د بچ پاتې کېدو سره هيڅ شی برابر نه دی.

تکفيري مزاج او په تکفير کې جلد بازي کول الفت، مينه او محبت په ټولنه او معاشره کې ختموي، بغض، عداوت او فرقه بازي کوي، ګډوډي او بد نظمي پيدا کوي، د مسلمانانو قوت ماتوي، کفار ترينه ناوړه استفاده کوي، معصومې وينې او مالونه مباح ګڼي، د خپلو اميرانو خلاف خروج او بغاوت کوي، د سلفو، مشرانو او اکابرو علماء کرامو ګستاخي کوي، لکه د خوارجو يو مشر عمر بن عبيد وويل: چې زه د علي، عثمان طلحه او زبير رضي اللّه عنهم ګواهي نه قبلوم. «ما أجزت شهادتهم».

د الأهم فالأهم څخه توجه اړوي، پدې وجه امام بخاري رحمه اللّه باب ايښی دی: «باب ترک قتال الخوارج».

تکفير کې جلد بازي کوونکي ماهر فقهاء او مستند متبحر علماء کرام نه وي، بلکه کم عمره سطحي علم والا حضرات وي، چې د فايدې په ځای يې نقصان ډېر وي، لکه حسن بصري رحمه اللّه فرمايي: «العامل على غير علم يفسد أکثر مما يصلح»، څوک چې بغير د علم نه کار کوي د هغه نقصان د فائدې نه ډېر وي نو «فاطلبوا العلم طلبًا لا تضروا بالعبادة» نو علم په داسې طريقې سره طلب کړئ، چې عبادت ته

پرې نقصان ونه رسېږي او «واطلبوا العبادة طلبًا لا تضر بالعلم، فإن القوم طلبوا العبادة وتركوا العلم حتى خرجوا بأسيافهم على أمة محمد صلى اللّٰه عليه وسلم». او عبادت په داسې طريقې سره طلب کړئ، چې علم ته وربانديې نقصان ونه رسېږي، ځکه چې يو قوم عبادت طلب کولو او علم يې پرېښود، د هغې وجې نه يې د نبي عليه السلام په امت باندې توره راوويستله.

«ولو طلبوا العلم لم يدلهم على ما فعلوا» او که چرته علم يې طلب کړی وي (يعني څه علمي تحقيق يې کړی وي) نو دوی ته به د دې کار ښودنه نه وي شوې (مفتاح دار السعادة، صلحه: ٨٣)

کومو خوارجو چې عثمان رضي اللّٰه عنه شهيد کړی و، هغوی هم کم علمه وو، ځکه هغوی کې يو کس هم د صحابه کرامو څخه نه و، کومو خوارجو چې علي رضي اللّٰه عنه شهيد کړی و، هغه هم جاهلان وو، جيد علماء کرام پکې نه وو.

پدې وجه امام إبن تيميه رحمه اللّٰه په الرد على البكري د ٢ جلد په ٤٩٠ صفحه کې فرمايي: چې په اهل السنة والجماعة کې علم وي، عدل او رحمت وي، د اهل السنة والجماعة مزاج کې علم وي عدل او مهرباني وي په امت باندې، بالمقابل خوارجو کې علم نه وي، عدل او رحم پکې په امت نه وي.

لهذا خلاصه خبره دا ده، چې تکفير کې جلد بازي، لکه څرنګه چې سابقه ادوارو کې امت ته ډېر نقصان رسولی او اوس يې چې په معاصر جهاد کې امت مسلمه او مجاهدينو ته چې کوم نقصان ورسولو، زمونږ مخې ته روښانه پروت دی.

مصلح، مدبر او باوقار قيادت

ليکوال: مولوي قطيبه مستشهد

که چېرته يو مؤمن مسلمان ځوان خپل تېر اسلامي تاريخ ته يوه ځغلنده کتنه وکړي، ورته څرګنده به شي چې کله هم د اسلامي نظام د قيام، د فساد د مخنيوي او ياکوم بل شرعي لامل له امله کوم جهادي او دعوتي خوځښت رامنځته شوی، له ډېرو سختو مشکلاتو سره مخ شوی دی، ډېرې نابلدې درنې او لويې ستونزې يې مخې ته درېدلې دي.

د داسې سختو ستونزو او مشکلاتو څخه تېرېدل او ځان تر بريا رسول ډېر څه ته اړتيا لري، ډېر څه کول غواړي، له ډېر څه تېرېدل غواړي او ډېر څه زغمل غواړي.

د جهادي خوځښت او تحريک په چلولو کې ستونزه يواځې د دښمن وار او ياستا په وړاندې د دښمن حرکت، پلان او ګزار ته نه ويل کېږي، بلکې په جهادي، اصلاحي، دعوتي او په مجموع کې په ټولو انقلابي خوځښتونو او تحريکونو کې پېښېدونکي مشکلات او ستونزې مختلفې بڼې او صورتونه لري.

په تېر شل کلن تاريخ يې زموږ لپاره ښه واضح او څرګند مثال «اسلامي امارت» دی، هغه چې له تېرو دېرشو کلونو را هيسې له مختلفو لويو او وړو داخلي او بهرني امتحانونو، تجربو، ستونزو، مشکلاتو او ټکرونو سره مخ شو او لا هم روان دی او د موفق کېدو په لور د بريا ګړندي قدمونه اخلي.

په جهادي جبهاتو، خوځښتونو او تحريکونو کې دا مشکلات په څو ډوله دي:

کورني مشکلات

بهرني مشکلات

۱_ کورنۍ ستونزې او مشکلات :– عموماً په هر کور، اداره، چاپېریال او په ځانګړې توګه په جهادي جبهو، خوځښتونو او تحریکونو کې داخلي مشکلات یا هم په بله اصلاح کورنۍ ستونزې د نورو پرتله ډېرې مؤثرې او بدې پایلې له ځان سره لري.

کورنۍ ستونزې ډېر زیات لاملونه، وجوهات او بنې لري، د مثال په توګه بې اطاعتي، بې اعتمادي، د نظریاتو اختلاف، د افکارو ناسم جوړښت، د واک او قدرت انحصار، افراط، تفریط، د نظام او پالیسۍ په اړه د عامه پوهاوي نشتون، فکري سمون او همدا راز خپلمنځيو مشورو نشتوالی هغه څه دي چې عموماً کورنۍ ستونزې او مشکلات زېږوي.

شاوخوا له نن څخه دېرش کاله وړاندې پدې خاوره باندې د اسلامي نظام د نفاذ او فساد په وړاندې د «اسلامي امارت» په نوم یو جهادي حرکت رامنځته شو، پیل یې وکړ او د فساده په وړاندې یې په ډېره مېړانه او شجاعت سره څو کاله پرلپسې په ځان او مال سره پریکنده مبارزه وکړه. همداغه و چې متعال ذات د أمیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه په قیادت کې په افغان مسلمان او مؤمن ولس باندې ستره فتحه او عظیم نعمت (اسلامي نظام) پیرزو کړ.

طالبانو د ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه په قیادت کې شاوخوا د پنځه کلونو لپاره د افغانستان واګې په لاس کې واخیستل او اسلامي نظام یې پرې حاکم وساته، کله چې د اسلامي نظام برکات او نیک اثرات د نړۍ تر مختلفو لوریو وخوځېدل او د نړۍ مسلمانانو د اسلامي نظام حقیقي مانا او قیمتي جوهر درک کړ، نو ځکه یې افغانستان ته کډې وکړې او غوره یې وګڼله چې پاتې ژوند د «اسلامي امارت» تر چتر لاندې په اسلامي نظام کې تېر کړي.

وخت تېرېده، دا لړۍ پسې ورو ورو په زیاتېدو وه، همداغه و چې د نړۍ کفارو له دې کار څخه خطر احساس کړ او وې انګېرله چې که چېرته دا نظام همداسې قائم پاتې شي، نو لیرې نده چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه به مسلمان ځوانان افغانستان ته هجرتونه وکړي، او د کفارو په وړاندې به یو داسې ځواکمن حکومت رامنځته شي چې بیا به یې په وړاندې درېدل محال وي.

همداغه و چې د نړۍ ځبر ځواکې امریکا د ناټو په مشرۍ او د څه باندې ۵۴ کفري او تش په نوم اسلامي ملکونو په ملتیا په افغانستان باندې ځمکنی او هوایي بریدونه وکړل، د افغانستان مؤمنه، جهاد پاله او اسلام پاله خاوره یې اشغال او د نړۍ یواځینی اسلامي نظام «اسلامي امارت» یې رنګ او سقوط کړ.

خو د لوی ملا صیب رحمه اللّٰه په شمول د زرهاوو علماء کرامو، شیوخو او متدینو اشخاصو د عظیم قیادت په برکت څو کاله وروسته یو ځل بیا د اشغالګرو صلیبي او داخلي ځواکونو په وړاندې مقدس جهاد شروع شو، دې جګړې کې په اول کې چریکي بڼه لرله، د مجاهدینو د قربانیو په برکت او د وخت په تېرېدو سره په لویو محاذونو او جبهیې او تعارضي جګړو بدله شوه، خلاصه دا چې له څه باندې شل کاله پرلپسې لویو قربانیو، شهادتونو، زخمونو، هجرتونو، اسارتونو او نورو ډول ډول سختیو او سربښیندنو وروسته متعال ذات «اسلامي

امارت» د بریا تر درشله ورساوه او تقریباً پنځه ویشت کاله وروسته یې افغان مؤمن مجاهد او مسلمان ولس یو ځل بیا په دوه لویو پیرزوینو (فتحې او اسلامي نظام) ونازول. سبحان اللّه وبحمده

آمدم بر مقصودم؛ که وګورو په دې تېرو پنځه ویشتو کلونو کې اسلامي امارت له ډېرو سختو بهرنیو او داخلي مشکلاتو، ستونزو او ننګونو سره مخ شو، ډېرو جهادي شخصیتونو او قومندانانو له اسلامي امارت څخه لارې بیلې او جدا کړې، ډېرو یې په مشرانو باندې بې اساسه تهمتونه ولګول، ډېرو یې د دښمن په وړاندې خپلې وسلې کېښودې او ورته تسلیم شول، ډېر یې بیا په نورو داسې خواوو وخوځېدل چې د اسلامي امارت لپاره یو ستر دردِ سر جوړ شول.

خو بیا هم د رب ذو الجلال ستر فضل او احسان وو چې اسلامي امارت یې له ټوټه کېدو، سقوط، انحلال او پاشل کېدو څخه وژغوره.

دې کار له ځان سره ډېر زیات لاملونه او وجوهات درلودل، البته هغه څه چې پدې ستره تاریخي بریا کې یې اسلامي امارت ته اوږه ورکړه هغه څلور شیان وو:

(۱): کامل اطاعت

(۲):- متقابل احترام او درناوی

(۳):- وحدت او یووالی

(۴):- کامل اعتماد

محترمو لوستونکو! لکه څنګه چې مو د کورنیو مشکلاتو او ستونزو په اړه څو کرښې ولوستلې، همداراز بهرني مشکلات او ستونزې هم ګڼ عوامل لري.

خو دا باید په یاد ولرو او تاریخ هم ثابته کړې چې له بهرنیو مشکلاتو څخه کورنۍ ستونزې او مشکلات ډېرې بدې پایلې او اغیزې له ځان سره لري.

د تحریک طالبان پاکستان په تېر څه باندې پنځلس کلنه جهادي دوره کې تحریک هم له ګڼو داسې کورنیو او بهرنیو مشکلاتو او ستونزو سره مخ و، خو دا چې اوس الحمداللّه له دغه مشکلاتو څخه ورځ په ورځ راوځي او د بریا په لور ګړندي ګامونه اخلي، بزدل دښمن هیڅکله دا صحنه لیدل نشي زغملای، له همدې امله له تېرې څه مودې را هیسې د بزدل او منافق دښمن له لورې په میډیا او ټولنیزو رسنیو کې د خپلو لاسپوڅو ژورنالیستانو، جاسوسانو او تلویزوني شبکو له لارې وخت په وخت مختلفې بې ځایه دعوې کوي، پروپاګند او افواهات خپروي چې ګواکې تحریک طالبان پاکستان د خپلمنځي اختلافاتو ښکار دی، یا دا چې د مشرانو په منځ کې یې په اقتدار لانجې رامنځته شوې، کله کله بیا د خپلمنځي جګړو په اړه په ډیرې سپین سترګۍ سره درواغجن راپورنه خپروي، ترڅو خپل کرېډټ پرې زیات کړي او داسې نور؛

دا چې د امیر محترم مفتي نور ولي محسود (أبو منصور عاصم) صاحب حفظه اللّه (چې په کامیابو جنګي او سیاسي پالیسیو، قیادت او قومندې یې دښمن هم بار بار اعتراف کړی دی) قیادت د جهادِ پاکستان او تحریک طالبان پاکستان لپاره یو لوی خیر ثابت شو، دا یو حقیقت دی چې تحریک طالبان پاکستان او جهادِ پاکستان دواړه د تحلیل او سقوط په درشل ولاړ وو، متعال ذات د مفتي صاحب

حفظه اللّٰه د قیادت په مټ تحریک او جهادِ پاکستان دواړه د تحلیل او سقوط نه بچ او د بریا یو بل پړاو ته یې ور داخل کړل، د مفتي صاحب حفظه اللّٰه د قیادت دوره د تحریک طالبان پاکستان د مخکینیو ټولو اداوارو په مقابل کې یو څو د پام وړ امتیازات او ځانګړتیاوې لرې، غواړم په لاندې ډول یې په مختصره توګه ذکر کړم.

۱:– اتحاد او یووالی:

د جهادِ پاکستان سره مربوط جهادي مجموعات، ګروپونه او جماعتونه چې څومره د مفتي صاحب حفظه اللّٰه د قیادت په دوره کې په تحریک کې راجمع او ضم شول دومره په یوه دوره کې هم نه وو راجمع شوې.

د ۲۰۲۱ میلادي کال د جنورۍ د میاشتې څخه واخله بیا د روان ۲۰۲۳م کال د اګست تر میاشتې پورې د هېواد له لر او بر څخه شاوخوا تر څلویښتو (۴۰) پورې ورو او لویو جهادي ګروپونو له تحریک طالبان پاکستان سره بیعتونه کړې دي.

چې الحمدللّٰه نن ورځ موږ او تاسې ټول د دې راغلي وحدت او یووالي د پام وړ ثمرات او ګټې په خپلو سترګو وینو، او دښمن هم پرې بار بار اعتراف کړی دی.

۲:– یو واحد او مضبوط مرکزي نظام:

د مفتي صاحب حفظه اللّٰه د دورې نه مخکې دوراتو کې د تحریک طالبان پاکستان په سطحه هیڅکله یو واحد نظام رامنځته نشو، بلکې هرې حلقې به ځانته مستقله شورا، مستقله لائحه، مستقل ویاند، مستقله خارجي، داخلي، اقتصادي او جنګي پالیسیانې او مستقله تګلاره درلوده.

د واحد مرکزي نظام نشتون او مستقلې پالیسیانې هغه څه وو چې د پاکستان جهاد یې له خنډ او ځنډ بلکې له سقوط سره مخ کړی و.

۳:– د عامه تلفاتو مخنیوی:

د مفتي صاحب حفظه اللّٰه په مبارکه دوره کې د عامه تلفاتو کچه صفر ته راټیټه شوې، په مساجدو، عامه ځایونو، بازارنو، خدمتي او صحي مراکزو او تعلیمي ادارو کې کاروِنه او عملیات الحمدللّٰه مطلقاً منع او دربدلي دي، چې په تېر کې په یادو مقاماتو کې نظامي عملیاتو د جهادِ پاکستان او تحریک طالبان پاکستان دعوت، قربانیو او نهج ته ناقابل تلافي (نه جبرانېدونکی) تاوان رسولی، تر دې چې د پاکستان جهاد یې له سقوط او شنډېدو سره مخ کړی و، چې اوس الحمداللّٰه دغه ناوړه لړی دربدلي او هېڅوک نشي کولای چې د تحریک طالبان پاکستان له نوم څخه ناوړه ګټه پورته او په یادو ځایونو کې کوم نظامي فعالیت ترسره کړي.

۴:– د نویو مجاهدینو بیعتونه:

د مفتي صاحب حفظه اللّٰه په مبارکه دوره کې تحریک طالبان پاکستان او جهادِ پاکستان د سقوط، شنډېدو او ناامیدۍ د حالت څخه را ووتلو، بلکې د دې ترڅنګ په زرهاوو نوي مجاهدین ملګري او جهادي ساحې تحریک ته په لاس ورغلې لکه د شمالي وزیرستان، خیبر

ایجنسی، لکي مروت، ګنډاپور او همداراز د بلوچستان ځیني سیمې يې د يادولو وړ دي. همداراز د چلاس او تانګیر په سوونو علماء کرامو او مجاهدینو د تحریک طالبان پاکستان سره بیعتونه وکړل.

۵:- ځانګړی استشهادي ځواک:

د تحریک طالبان پاکستان د استشهاديانو تعداد چې اوس ګومره دی، په تېرو دورونو کې هیڅکله هم دومره تعداد نه و جوړ شوی، د مفتي صاحب حفظه په قیادت کې د استشهادي مجاهدینو لپاره ځانګړی کنډک جوړ شو، مسؤلین ورته وټاکل شول او د عملیاتو لپاره ورته خپله مستقله لایحه جوړه شوه.
د مفتي صاحب حفظه اللّه د مبارکي دورې د استشـــهادي مجاهدینو یو امتیاز دا هم دی چې استشهادي مجاهدین یواځې او یواځې په خالص نظامي ځایونو استعمالیږي، چې په رأس کې یې نګراني او څارنه پخپله امیر صاحب حفظه اللّه او نائب امیر (د دفاع وزیر) کوي.

۶:- پراخ اداري نظام او لوائح:

د مفتي صاحب حفظه اللّه په مبارکه دوره کې د اسلامي امارت (أعزها اللّه) په طرز باندې یو پراخ، جامع او وسیع اداري نظام او جوړښت رامنځته شو، چې په سر کې یې په جیدو علماء کرامو او مفتیان عظامو باندې مشتمله قوي رهبري شورى شتون لري.
د رهبري شورى تر چتر لاندې مختلف وزارتونه او دوه مرکزي نظامي (عسکري) کمېسیونونه او د هغوی تر چتر لاندې بیا مختلف ولایات، ولایتي نظامي کمېسیونونه، ولسوالیانې، او تر ځلور سوو پورې جهادي ډلګۍ خپل جهادي فعالیت او خدمت ترسره کوي.
د دې ترڅنګ د هر وزارت او اداري لپاره د حنفي فقهې په رڼا کې شرعي لایحې، اصول او دستور نامې او په رأس کې یوه عمومي لائحه جوړه شوه. د یادونې په توګه باید ووایو چې په دغه ټولو لائحو کې زیات أخذ د اسلامي امارت د لوائحو څخه شوی دی، یانې دا به مبالغه نه وي که څوک ووایي چې تحریک طالبان پاکستان په خپل وجود کې یو حکومت او نظام دی، چې کله هم په ملکي سطح کوم معروضي حالت راغی نو ښه مناسبه ګټه ترینه اخیستلای شي.

۷:- د علماء کرامو او مذهبي طبقاتو سره روابط او هماهنګي:

زموږ دښمن د ابتداء نه په دې کوښښ کې وو چې د پاکستان د مذهبي جماعتونو او طبقاتو سره د تحریک طالبان پاکستان فاصلې رامنځته شي، چې پدې کار کې دښمن تر کافي حده کامیاب شوی هم دی.
چې د دې یو غټ لامل او علت په غیر شعوري توګه زمونږ غلطیانې او د اعتدال نه اوښتې تشدد او سختې وه، حالانکه که بل طرف ته وګورو نو دا امتیاز صرف د پاکستان جهاد ته حاصل دی چې بغیر زموږ د مجاهدینو د استفتاء نه پنځه سوو جیدو اکابرو دیوبندي علماء کرامو د دې جهاد د فرضیت په حق کې فتوی ورکړې ده. په پاکستان کې لوی مکتب فکر علماء دیوبند دی او لوی مذهبي جماعت جمعیت علماء اسلام دی، د دیوبند او جمعیت

علماء اسلام اکابرو او د سر خلقو زمونږ د جهاد په حق کې تفصیلي او په لیکلي بڼه فتوی ورکړې، زمونږ د جهاد په حق کې په لیکلې بڼه فتوی د بل هیڅ کوم مسلک او جماعت نشته د مثال په طور مفتي محمد فرید صاحب رحمه اللّٰه، شهید مفتي نظام الدین شامزئی رحمه اللّٰه، ډاکټر شیر علي شاه رحمه اللّٰه، شهید شیخ نصیب خان رحمه اللّٰه او داسې نورکڼ شمیر اکابر چې دا حضرات هم د علماء دیوبند د مسلک په سر کې واقع وو او هم د جمعیت علماء اسلام سرپرستان یا د مرکزي شورى اراکین او غړي وو.

په ابتدا کې دوی په لیکلې بڼه تفصیلي فتوی زمونږ او زموږ د جهاد په حق کې ورکړه، خو له بده مرغه وروسته زمونږ او مذهبي طبقاتو تر منځ فاصلې ایجاد شوې، چې کته یې یواځې او یواځې پوځ او سیکولر طبقو ته ورسیده.

خو دا چې الحمدللّٰه مفتي صاحب حفظه اللّٰه کلک دیوبندي او د اکابرو کلک مقلد دی، نو د ده په مبارکه دوره کې د علماء کرامو، مشائخ عظامو او مذهبي طبقاتو سره د فاصلو د ختمیدو کوښښ شروع شو او د دې لپاره ځانته پالیسي جوړه شوه. چې د تحریک طالبان پاکستان د پلیټ فارم او نوم نه به په مذهبي خلقو تنقید بند وي او د سیاسي چارو وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د علماء کرامو سره رابطې شروع کړي.

۸:– د اسلامي امارت اطاعت:

د نورو دوراتو په مقابله کې د اسلامي امارت (اعزها اللّٰه) سره د ټولو نه ښه او قوي تعلق د مفتي صاحب حفظه اللّٰه په دوره کې دی، چې اثرات به یې تاسې هم لیدلي وي.

۹:– د خارجي او افراطي فکر څخه پریکون او برأت:

زمونږ دښمن دا کښښ کولو چه مونږ دنیا ته د یو عالمي او نړیوال عسکري تحریک په نوم معرفي کړي او زمونږ خلاف د دنیا نور قوتونو څخه کومک واخلي، خو د مفتي صاحب حفظه اللّٰه په مبارکه دوره کې دا خبره دنیاوالو ته واضحه کړای شوه چې تحریک طالبان پاکستان خارجي او افراطي اجنډا نلري. او جهاد یې صرف د پاکستان د طاغوتي نظام، پوځ او عسکري ادارو په خلاف دی.

ځکه په یو وخت د هر چا سره په هر ځای کې جنګ کول د نبي علیه السلام د سیرت خلاف ده، صحیح طریقه او سیاست تقلیل الاعداء دی، یعني جنګ مقامي او فکر عالمي او تدریجاً د وسع مطابق د جنګ ساحه پراخول.

۱۰:– د قوت جزیرې له منځه وړل:

تحریک طالبان پاکستان د مفتي صاحب حفظه اللّٰه د دورې نه مخکې د قوت په مختلفو جزیرو باندې تقسیم شوی و، هر حلقه د قوت مستقله جزیره وه چې په خپلو کې هم د یو بل سره جنجالونه پیدا کېدل، چې مفتي صاحب حفظه د قوت هغه جزیرې ختمې او هغه ټولې غټې حلقې یې د اسلامي امارت په شکل او طرز په ډلګیو تقسیم کړې او مشران یې ورته د تحریک په رهبري شورى کې ارکان، غړي او مختلف مسؤلین وټاکل.

په اخر کې باید دومره ووایم چې الحمدللّٰه ثم الحمدللّٰه د تحریک طالبان پاکستان هیڅ یو وفادار جهت یا مسؤل شخص ته د تحریک طالبان پاکستان په اوسني موجوده قیادت او رهبري شورى هیڅ کوم اعتراض او خفګان نشته، چې دا د تحریک طالبان پاکستان په تاریخ کې لومړی ځل دی چې د تحریک طالبان پاکستان ټولو قوي جبهاتو په یو مرکزي نظام کې ښه په اخلاص سره د شرعي لوائحو مطابق خپل جهادي خدمتونو او فعالیت ترسره کوي.



که علماء کرام پارلمان ورته پرېږدي نو!؟؟

لیکوال: ابو خوله

مذهبي جمهوري ګوندونه او د هغوی لارویان په جمهوریت کې د ګډون او کار کولو لپاره د دلیل په توګه یوه دا خبره هم کوي چې: « که چېرته علماء کرام په پارلمان کې نه وي او له انتخاباتو مکمل بایکاټ وکړي نو پارلمان به په مکمل توګه سیکولر خلګو ته پاتې شي، بیا چې هغوی څنګه غواړي د اسلام ضد به د خپل خواهش مطابق بیلونه (فرمانونه) پاس کوي او غیر شرعي قوانین به جوړوي، نو ځکه موږ د هغوی د دې کار د مخنیوي لپاره په انتخاباتو کې حصه اخلو او ګډون پکې کوو».

محترمو مسلمانانو ورونو! که موږ او تاسي د رسول اللّٰه مبارک سیرت مطالعه کړو، نو کټ مټ همداسې صورت او کیفیت د بیت اللّٰه شریف هم و، کله چې رسول اللّٰه د توحید د معظمې عقیدې دعوت پیل کړ او د مکې مشرکینو ته یې فقط د یو اللّٰه جل جلاله عبادت په لور دعوت ورکړ، نو د ډېرو نورو خبرو او فرمایشونو ترڅنګ د مکې مشرکینو رسول اللّٰه ته یوه خبره دا هم وکړه چې ته زموږ د معبودانو بد مه وایه، زموږ د بوتانو ترڅنګ دې یو معبود ستا هم وي، لکه نن سبا چې د پاکستاني آئین حال دی، چې د ډېرى غیر شرعي قوانینو ترڅنګ دوی یو څه قوانین د اسلام په نوم هم جوړ کړي، خو دا چې اسلام د توحید دین دی، اسلام له «وحده لاشریک له» پرته د هر طاغوت او باطل رد کوي، رسول اللّٰه د دوی خبره رد او دا مصلحت یې ونکړ، چې که زه بیت اللّٰه شریف، خانه کعبه او مکه پرېږدم نو اوس خو کعبه کې ۳۶۰ بوتان پراته دي، دا بوتان او شرک به نور هم زیات شي، دلته به دوی سره ګډ کار کوم، دلته به مې په کعبې سترګې لګېږي، دا د ابراهیم خلیل اللّٰه یادګار دی، دلته یو لمونځ په ۱۰۰۰۰۰ بدلېږي.

خو د دې ټولو فضیلتونو سره سره رسول اللّٰه د اللّٰه په حکم د فضیلتونو له دې مقدس ښار څخه هجرت کوي.

له دې وروسته بیا رسول اللّٰه مدینې منوره کې خپل د توحید دعوت پیلوي، صحابه کرام تیاروي، جهادي تشکیلات کېږي او بالاخره د ډېرو فتوحاتو

ترڅنګ د هجرت په اتم کال مکه مکرمه په بشپړه توګه فتح کېږي.

آيا پارلمان (چې په اوس عصر کې يې د يو معبود حيثيت خپل کړی او د ټولو منکراتو د اجرا جرړه او منبع ګڼل کېږي) د بيت اللّه شريف څخه زيات محترم او د تقدس وړ دی، چې دوی يې سره له شرک نشي پرېښودلای؟

آيا د دوی دعوت او طريقه د رسول اللّه څخه زياته مؤثره ده؟

آيا اللّه دوی ته امر ندی کړی چې هغه مجلس پرېږدئ چيرته چې د اللّه په دين پورې مسخرې کېږي؟

اللّه په قرآن عظيم الشان کې فرمايي او مؤمنانو ته امر کوي: وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى الْكِتٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايٰتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوضُوا فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِينَ وَالْكٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا.[سُورَةُ النِّسَاء : ١٤٠]

ژباړه: اللّه په دې کتاب (قرآن) کې تاسې ته پخوا امر کړی دی چې کله په هر ځای کې واورئ (ووينئ)، چې د اللّه د آيتونو پر خلاف آواز پورته کېږي او مسخرې ور پورې کېږي، هلته مه کېنئ، تر هغه پورې چې خلګ په کومه بله خبره کې مصروف شي، اوس که تاسې داسې کوئ، نو تاسې هم د هغو په څېر ياست، باور ولرئ چې اللّه منافقين او کافران په دوزخ کې يوځای راغونډوي. بل ځای اللّه فرمايلي:

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِى ءَايٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوضُوا فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ.[سُورَةُ الانعَام : ٦٨]

ژباړه: او (اې محمده!) کله چې ته هغه خلګ ووينې چې زموږ په آيتونو کې نقطې لټوي، نو د هغوی له څنګ څخه پاڅېږه، تر دې پورې چې هغوی دا بحثونه پرېږدي، په نورو خبرو پېل وکړي، او که کله شيطان تا په هېره کې واچوي، نو چې څه وخت دا خطا احساس کړې، له هغه وروسته بيا د دې ظالمانو څنګ کې مه کېنه.

د سورة النساء د لاندې آيت په تفسير کې امام قرطبي رحمه اللّه ليکلي:

قَوْلُه تَعَالَى: [وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا] الْخِطَابُ لِجَمِيعِ مَنْ أَظْهَرَ الْإِيمَانَ مِنْ مُحِقٍّ وَمُنَافِقٍ، لِأَنَّهُ إِذَا أَظْهَرَ الْإِيمَانَ فَقَدْ لَزِمَهُ أَنْ يَمْتَثِلَ أَوَامِرَ كِتَابِ اللَّهِ. فَالْمُنَزَّلُ قَوْلُه تَعَالَى: (وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ). وكان المنافقين يَجْلِسُونَ إِلَى أَحْبَارِ الْيَهُودِ فَيَسْخَرُونَ مِنَ الْقُرْآنِ.

ژباړه: دا خطاب هغو ټولو خلکو ته دی چا چې ايمان ظاهر کړی، خواه هغه مخلص مسلمانان دي او که منافقين، ځکه يو څوک چې يو ځل د ايمان دعوی وکړي، نو بيا پرې د اللّه تعالی د کتاب احکامات منل لازمي او ضروري دي، اللّه چې دا آيت رانازل کړی، دا ځکه چې منافقين به د يهودانو له ملايانو سره کېناستل او په قرآن پورې به يې مسخرې کولې.

محترمو مسلمانانو وروڼو: په قرآن شريف پورې به مسخرې نورې څنګه وي، چې په پاکستان کې د احکم الحاکمين د قرآن يو حکم هم تر هغې قانون نشي جوړېدای ترڅو دواړ ايوانون (پارلمان او صدر) د اکثريت په رايې سره پاس

کړې نه وي، ترڅو چې د پاکستان له آئین سره موافق نه وي، ترڅو پورې چې صدر دستخط او لاسلیک نه وي کړی، چې په دغه طریقه زمونږ شریعت بل پاکستان کې درې ځلې نعوذ باللّٰه؛ فیل شوی، مسترد شوی، رد شوی، نامنظور شوی.

آیا اوس هم د پاکستان آئین (اساسي قانون) اسلامي آئین دی؟

آیا اوس هم اسلامي جمهوریت دی؟

آیا اوس له دې وروسته هم د قرآن کریم فیل کوونکي معصوم ګڼل کېږي؟

امام قرطبي رحمه اللّٰه مخکې فرمایلي:

قَوْلُهُ تَعَالَى: (إِنَّكُمْ إِذاً مِثْلُهُمْ) فَدَلَّ بِهَذَا عَلَى وُجُوبِ اجْتِنَابِ أَصْحَابِ الْمَعَاصِي إِذَا ظَهَرَ مِنْهُمْ مُنْكَرٌ، لِأَنَّ مَنْ لَمْ يَجْتَنِبْهُمْ فَقَدْ رَضِيَ فِعْلَهُمْ، وَالرِّضَا بِالْكُفْرِ كُفْرٌ، قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: (إِنَّكُمْ إِذاً مِثْلُهُمْ).

ژباړه: د ګناه کوونکو نه د اجتناب او ډېې کولو دلیل دا دی، چې کله څوک ګناه وکړي، او نور خلک د هغه نه ډډه نه کوي، نو یقیناً دی هم په دغه عمل راضي دی او په کفر راضي کېدل کفر دی.

اللّٰه فرمایلي: (إِنَّكُمْ إِذاً مِثْلُهُمْ) په دغه وخت کې به تاسې هم د دوی په شان یاست.

په نورو ګڼو تفسیرونو کې هم دا مضمون ډېر په وضاحت سره بیان شوی، خو د لیکنې د اختصار له امله مونږ په همدې بسنه کوو او جمهوریت پالو د دې خبرې یو مختصر عقلي رد کوو.

د دوی دا خبره چې که مونږ په پارلمان کې نه یو، نو دوی به غیر شرعي قوانین جوړ کړي د عقل له پلوه هم یاده دعوی باطله ده، ځکه چې یو خو دوی دعوی د اسلام کوي خو حال دا چې سره د لکونو علماء کرامو سره د زرګونو مدارسو سره د لکونو کارکنانو دوی خپلې ټولې فیصلې په جمهوریت کوي، تر دې چې په جماعتونو کې دننه ټاکنې هم په رایې او اکثریت سره کوي.

بل خبره دا چې که مونږ د پاکستان عوام په درې حصو تقسیم کړو، اوله ډله ټول علماء کرام، طلباء کرام، تبلیغي حضرات او همدارز د صوفیاء کرامو په شمول ټولې دینداري طبقې، دوهمه ډله عام مخلص مسلمانان چې د علماء کرامو سره اوږه په اوږه ولاړ دي او هر کار کې د علماء کرامو اقتداء کوي، دریمه سیکولر او بې دینه طبقه، اوس که علماء کرام له پارلماني نظام او انتخاباتو څخه بایکاټ وکړي، او پارلمان ته خیرباد (مخه ښه) ووایي، او د دوی په وینا سیکولر طبقه غیر شرعي قوانین جوړوي، نو زموږ د تقسیم مطابق اولې دوه ډلې په هیڅ صورت کې غیر شرعي قانون نه مني، نه یې منلی او نه به یې ومني، البته دریمه سیکولر بې دینه ډله د چا په کیسه کې نده، هغوی د قانون سره کار نلري، بغیر له قانونه هغوی هرڅه په آزادۍ سره کوي، نو بیا ولې علماء کرام د پارلمان لپاره دومره کوښښ کوي، باید دارلمان نور پرېږدي او د دې شرکي نظام حقیقت خلکو ته ښکاره کړي، په خپل ځان او خپلو منونکو شرعي احکامات ومني، او په شرعي طریقه د اسلامي نظام لپاره مؤثر جدوجهد او هڅې وکړي.

وما توفیقي الا باللّٰه



مجاهدین ولې نورو سیموته په کتو په پښتونخوا کې ډېر فعال دي؛ د یوې پوښتنې او اندېښنې ځواب

لیکوال: مولوي مستغفر الحنفي

پوښتنه دا ده چې: د تحریک طالبان پاکستان مجاهدین چې پښتونخوا کې عملیات او بریدونه کوي، ولې یې په پنجاب کې نه کوي؟! حال دا چې د پاکستان مهمې حکومتي او عسکري سیمې په پنجاب کې دي؟!

ځواب: له هرڅه مخکې باید ووایم چې دا خبره چې ګواکې د تحریک طالبان پاکستان مجاهدین یوازې په پښتونخوا کې عملیات کوي، پنجاب او نورو سیمو کې یې نکوي، دا د دښمن یوه افتراء پروپاګند او دروغجنه دعوی ده.

د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو او منهج ته هیڅ قوم، سمت، ژبه مطرح نده، د تحریک طالبان پاکستان مجاهدین چې کومه جګړه له اجیر او غلام پوځ سره کوي، مقصود یې یوازې او یوازې د اسلامي نظام حاکمیت او نفاذ دی.

چې په همدې لارکې د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو او د پاکستان مؤمنو ولسونو بې شمېره قرباني ورکړې دي او لاهم ورکوي.

د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو هغه بریدونه دي چې په کراچۍ، بلوچستان، لاهور او داسې نورو سیمو کې یې ترسره کړي او ترسره کوي یې، دا د دې تر ټولو ښه ثبوت دی.

ومو لیدل چې څو میاشتې وړاندې د سند ایالت په مرکزکراچۍ کې د پولیسو په عمومي مرکز د تحریک طالبان پاکستان د استشهادي کنډک له لورې د درې تنو استشهادي مجاهدینو په مټ تندریز استشهادي برید ترسره شو.

همدارازهره ورځ وینو چې له خیبر پښتونخوا وروسته په دوهم نمبرکې ډېر بریدونه په بلوچستان کې ترسره کېږي.

څو میاشتې وړاندې په پلازمېنه اسلام آباد کې هغه استشهادي برید چې د طاغوتي پوځ او استخباراتي ادارو پښې یې ولړزولې او د پاکستاني خفیه ادارو کړنې یې تر پوښتنې لاندې راغلې.

خو دا چې د کاذب دښمن او سیکولر عناصرو له لورې دا خبره او پروپاګند په پراخه کچه ترسره کېږي، چې ګواکې د تحریک مجاهدین یوازې د پښتنو په سیمه کې جهاد کوي، ومې غوښتل چې

دا خبره لېږپه تفصیلي توګه تحلیل او ځواب کړم.
دا خبره دوه برخې لري، لومړی دا چې دښمن په مجاهدینو افتراء کړې، او دروغ یې پرې تړلي، افترا ځکه ده چې مجاهدین نه یوازې په پښتونخوا بلکې د پاکستان په ډېرو سیمو کې عملیات ترسره کوي.
دوهم دا چې په همدغې افتراء او دروغو یې بیرته اعتراض کړی چې دې ته کمال د رزالت وایي، چې پدې اړه د لوړپوړو حکومتي چاروکو ډېر ویډیویي ثبوتونه او وېناوې په ټولنیزو رسنیو کې هم بار بار خپرې شوي دي.
یوې خبرې ته باید اشاره وکړم، هغه دا چې د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو د عملیاتو شدت په پښتونخوا کې ډېر دی، دا ځانته کڼ مؤثر لاملونه او وجوهات لري.
لومړی لامل: پښتانه غیرتمن او متدین خلک دي، هیڅکله په خپله خاوره د امریکا او انګلیس په شمول کوم بهرنی حکومت، اشغال او تسلط نشي زغملای، همدا لامل دی چې ډېر پښتانه د دغه ظالم او غلام پوځ مقابل کې جګړه کوي، ترڅو د دغو اجیرو پوځونو څخه خپله خاوره ازاده او په مقابل کې یې یو بشپړ شرعي نظام او اسلامي ټولنه رامنځته کړي.
دوهم لامل: پښتوخوا د کاونډي هېواد افغانستان سره په اوږده پوله پرته سیمه ده، معلومه خبره ده چې د ګاونډ له حالاتو، تراژیدو، انقلابونو، عنناتو او صورتحال څخه به متاثره او اغېزمنه وي. دا چې د افغانستان څخه شاوخوا شل کاله وړاندې عرب او عجم مهاجر مجاهدین د پاکستان قبایلي سیمو ته مهاجر شول، چې وروسته ور باندې د پاکستان اجیر او ناپاک پوځ د ځبرځواکي امریکا په امر بریدونه پیل کړل، او د قبائلو همدې غیرتي ولسونو یې دفاع ته را ودانګل چې تر ننه پورې دا لړۍ روانه ده.
دریم لامل: د تحریک طالبان پاکستان مجاهدین خپبر پښتونخوا کې ځکه ډېر بریدونه کوي چې د پښتونخوا په نسبت د پاکستان نورې سیمې له طاغوتي جمهوري نظام او غربي تعلیمي نصاب څخه دومره متاثرې شوې دي، چې هغوی هیڅکله دومره ابتلاء او ازمایښت نشي زغملای چې ګواکې د هغوی سیمې دي د تحریک طالبان پاکستان مراکز وګرځي.
څلورم لامل: نورو سیمو ته په کتو په پښتونخوا کې د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو او بریدونو کچه ځکه ډېره ده، چې د پښتونخوا په ځینو سیمو کې د لویو لویو علماء کرامو له لوري خلک د حاکم طاغوتي نظام د بطلان، د ظالم او وحشي پوځ د ظلمونو، د اسلامي نظام د نفاذ په اهمیت، فرضیت په شمول د جهاد په فرضیت او اهمیت وخت په وخت پوهول شوي دي.
لکه څنګه چې په سوات کې د صوفي محمد صاحب او بیا وروسته د طالب حق مولوي فضل اللّه خراساني رحمه اللّه له لوري د شرعي نظام غوښتنه شوې وه.
پنځم لامل: کله چې په قبایلو کې د مظلومو مسلمانانو په وړاندې پدې وجه پوځې عملیات پیل شول، چې دوی فقط د اسلامي امارت غوښتنه کوله، نو په هغه آپریشنونو او پوځې عملیاتو کې دې ظالم، وحشي او اجیر پوځ داسې نه هېرېدونکي ظلمونه او وحشتونه ترسره کړل، چې تاریخ یې ځان سره د ساتلو توان هم نلري.
له دې پرته نور هم کڼ شمېر مهم وجوهات او لاملونه لري، خو پدې خاطر چې بحث اوږد نشي، په همدې اکتفاء کوو.
قدرمنو لوستونکو! دا چې په پښتونخوا کې د مجاهدینو بریدونو زور اخیستی او دښمن غواړي پدې اړه پروپاګند وکړي او کټه ځیني واخلي، د عامو مسلمانانو په ذهنونو کې مختلف شکوک او شبهات ایجادوي.
لطفاً! د دښمن په خبرو مه دوکه کېږئ، بلکې راشئ او له نیږدې څخه د حقایقو د معلوملو کوښښ وکړئ.

د اسلام آباد له نړیوال پوهنتونه – د استشهاد په سفر

ليکوال: عاصم سعيد لاهوري
ژباړن: عزيز الدين مصنف

(دوهمه برخه)

شپې صبا کيدلې، د خپل ورور او د ميرعلي د شهادت کيسو د دنيا له کارو مات کړی وم، له هر څه مې زړه تور و، يوه شپه مې خوب وليد چې زما ورور او ميرعلي د شنو ونو لاندې ناست وي، ماته لالا وايي شريفه! ته خوشحاله نه يې چې له موږ سره کېنې، ميرعلي ور غبرګه کړه، نجيبه! شريف ته وګوره دا بزرګ خو نور هم ښايسته شوی دی، را غږيې کړ راځه شريفه د لالا څنګ کې دې کېنه، ور روان شوم، لالا مې خپل څنګ کې ځای راته برابراوو چې کېنم، مورکۍ مې غږ را باندې وکړ، ويل زويه! د لمانځه وخت دی، هله په وياله اودس وکړه، نن دې کارونه ډېر دي، چې بيا ګرمي کېږي، ژر ژر مې اودس وکړ، تر لمانځه وروسته يو څه ډاډه غونډې شوم، بله ورځ بيا ويده وم، چې ميرعلي او زما لالا د هماغو ونو لاندې ناست وي او مجلس کوي، لالا مې ماته نه را ګوري خو ميرعلي پټ پټ را وګوري او بيا مسکی شي، را پاڅېدم لمانځه ته لا وخت و، ولاړم په وياله مې اودس وکړ، دوه رکعته لمونځ مې وکړ، پر وجود کې مې عجيبه تغيرات وليدل، نور مې د سهار تر لمانځه مخته پر تهجدو عادت واخيست، دوه درې ځلې مې مور ليدلی وم، ويل زويه خدای پاک دې راته وساته، له مورکۍ مې هر وخت دعا اخيسته، ژوند و روان و، کوچنی ورور مو را لوی شو، زما پر زړه نور د تحريک د يارانو ليدل بې انتظاره شول، هره شپه به مې له اللّه څخه د هغوی د ليدلو سوالونه کول، بالاخره مې يوه شپه دا نيت په پخه اراده بدل کړ، کوچني ورور ته مې د کور سرپرستي ور وسپارله او زه د يو ليرې ولايت په سفر رهي شوم، ورور ته مې وويل چې د پوهنتون د يو ټولګيوال کره په دوره ځم، دا ولايت ډېره اسماعيل خان نومېده، چې ورسېدم هلته پرتو ليرې علاقو ته مې د يوه بس ټکټ وکړ، له ښاره ليرې خلک له اردو ژبې سره دومره نه وو اشنا، زما رنګ هم تور و، نو لهجه هم پنجابۍ، خلګو به د شک په سترګه راته کتل، له موټره ښکته شوم، پر ځنګل پوښلو کليو خواته رهي شوم، دا مې د سفر دريمه شپه وه، مازيګر مهال د کلي پر جومات برابر شوم، ماسخوتن لمانځه نه وروسته کليوالو د ملا له ډوډۍ سره د يوه مسافر برخه هم راوړې وه، تر لمانځه وروسته ټول خلک ولاړل، يواځې زه او د جومات ملا امام پاتې شوو، سخت خوب راته، ويده شوم، د شپې دولس بجې شاوخوا وې چې چا مې له سره څادر کش کړ، په پښتو ژبه يې ويل پورته شه جاسوسه، له دې



نوم اورېدو سره مې بدن لړزه واخیسته، ځکه چې د جاسوس په سزا پوهېدم چې مرګ دی، سترګې يې رابانديې وتړلې او پر موټر سايکل يې کېنولم، تر کړی مزل وروسته پياده شوو، زه یې تر لاس نیولی وم په یوه لوړه ختلو، تقريباً دوه ساعته مزل وروسته مې بدن د ونو په خاښونو لږېده، پوه شوم چې ځنګلي ساحې ته ورسېدو، پياده تګ زما لپاره ډېر سخت و، خو چې څوک دې تر شا او مخ روان وي بيا به په خپل نه بلکې د بل په زړه به مزل کوې، يو ځای ته ورسېدو چې ږغ یې وکړ، چې دی به دلته پرېږدو او سهار به بيا يې امير صيب ته ورولو، ټوله شپه يې زما لاسونه تړلي وو، نه پوهېدم چې څه پېښه وشوه، سهار مهال یې د يو څېبور زلمي مخته سترګې رابانديې خلاصې کړې، یو نقاب پوښه پرې ږغ کړ: امیر صیب دا سړی تازه پر سیمه لیدل شوی، زمونږ استخباراتو خبر راکړی و چې داسې مشکوک کس راغلی، د ځوان ښي اړخ ته د کرینکوف روسی ماډل ایښی و، متې یې د اوداسه په اوبو لاندې وې، د ځوان مخ ځلېده، پر شونډو یې نری مسکا خپره وه، پر سر یې د محسودو قیمتي پکول ایښی و، یو بل زلمی یې خوا ته ناست و، کتابچه او قلم ورسره وو، لاس يې را وړاندې کړ، ویل ستړی مشې، ما په اردو کې ځواب ورکړ، د ځوان اردو ښه ټېته زده وه، پوښتنې یې راڅخه شروع کړې، زما د ماشومتوب نه نیولې تر اوس حالته ټولې پوښتنې یې په لسو دقیقو کې وکړې، ملګرو ته یې وویل چې یو یې سځ خواړه او جامې ورکړئ، خاص پام پرې کوئ! دریمه ورځ همغه ځوان راغی ویل راځه!


ورسره روان شوم، ملګرو ته یې ویل موږ بېرته راګرځو، پر فکر مې ډېر سوالونه راتلل، کله به مې خپل راتلونکی حالت تصور کړ، بیا به مې شهید ورور را په یاد شو، ځان به مې ډاډه کړ، ځوان ویل زما نوم محمد دی، په قوم محسود یم او د دې علاقې نظامي مسئول یم، ستا په اړه مونږ ټول معلومات راټول کړي، ستا یو ورور شهید شوی، یو ورور دې مسافر دی، دریم ورور دې پر کور دی.

له دې خبرو سره مې هډونه ځیږ شول چې دا پر څه مصیبت واوښتې، خو چې د ځوان مخ ته مې وکتل د دنیا ټول غمونه به مې ختم شول.

د محمد تورو څېو، ورین تندي او سوچه پښتانه لباس زما ټولې پوښتنې ځوابوولې، مونږ هم مسلمانان وو، الحمدللّه؛ لمونځ اودس هر څه مو کول، خو دومره نوراني انسان مې چېرته هم نه و لیدلی، خاص زموږ شهید ورور به چې کله د شپې د تهجدو لپاره پورته شو د ځان لپاره به یې د شهادت دعاوې کولې باقي مونږ د مکتب هلکان وو، ایله مو د عصري نړۍ رقابتونه څارل، محمد په قد لوړ و، چې ما به ورته کتل نو سر به مې ښه پورته کړ، محمد ته ما خپل نوم نه و ورښودلی، راته ویې ویل شریفه! څنګه راغلی یې څه غواړې؟ او چا رالیږلی یې؟!

د درغو ویلو ګټه نشته، رښتیا خبره وکه بس د دواړو پکې ګټه ده، کار چې ځنډېږي نو سختېږي، دواړه د یوه کمر پر ژۍ کېناستلو، ما د مشر ورور د شهادت څخه، بیا زموږ کلي ته د شهید میرعلي د راوړلو کیسه بالاخره زما د جهاد او اسلام سره د مینې کیسه دا ټولې خبرې ما د زړه له تله ورته وکړې.

محمد پر شاه وټیوولم ویل شریفه دا به وخت څرګندوي چې ستا کیسه څومره ریښتیا ده، خو ته سبا کور ته ولاړ شه، ستاسو د علاقې مجاهدین موږ ژر نه له ځان سره نه شاملوو، ځکه ستاسو د محیط او چاپیریال وضعه او کیفیت له نورو سره ډېر فرق لري، هم موږ ته ستونزې جوړولای شي هم تاسو ته، هر وخت چې فرصت و، بیا حال درکوم إن شاء





اللّٰه، بیا به خوندور خدمت وکړې. پر سبا یې ماته د لارې کرایه راکړه، ما ډېر ټینګار وکړ چې نور کور ته دتلو اراده نلرم، محمد ویل چې دلته د اردو ژبې مجاهدین نشته، تنګ به شې، ما ورته ویل چې نشم تللای، زړه مې نور دلته ولوېد، که مې وژنې او که مې پرېږدې، زه نور نه ځم. ډېره عجیبه وې، چې داسې ماحول ته چې نه پکې څوک پېژنې، نه خپل وي، نه تربور وي، ولاړ شې او هر نا اشنا د یوه خواږه ورور مینه درکړي، نو بیا به د چا زړه وشي چې بیرته ولاړ شې.

د محمد دوی مرکز د یو غر په څنډه کې و، ټول ملګري یې ځنېور وو، یواځې زما پر سر وېښتان نه وو، خدای شته زه سرتور تللی وم، هلته یو مجاهد خپله خولۍ راکړه، میاشت مې تېره شوه، ټول مجلس مو کډ وو، هر مجاهد زما د خوښ ساتلو کوښښ کاوو، خاص د ځانګړو حالاتو پر وخت به زه کوم ملګري پر چکر بوتلم، نور ژوند بیخي خوندور و، د سنګر ژوند و، نو زه هم یو ترې او نا بللی د خدای مېلمه، کله به چې شپه شوه د آسمان ستورو به مې د فکر ټالونه کورني خواږه ژوند ته زنګول، مور، خور مسافر ورور کوچنی ورور ــ آه ــ هغوی به څنګه وي؟ مور به په څه حالت کې وي؟

یو ځلې مې بیا د تلو اراده وکړه، خو له دې خلکو تلل هم یو غر زړه غواړي، د اخلاقو په داسې ماحول کې اوسېدل چې هر نا اشنا کس دې ورور وي ترې تلل ډېره سخته وي.

څه موده وروسته محمد بیا راغی ویل ته نور زمونږ ملګری یې او ستا د جهادي شبکې مستعار نوم خالد دی، ملګرو ته یې غږ کړ چې شریف ته نور په خالد ږغ کوئ. یوه شوم چې زما په هکله له هر څه ډاډه شوي دي، محمد ویل چې خالده سبا به له قتیبه سره ولاړ شې، لومړنی ابتدايي زده کړې به درکړي، سبا سهار له لمانځه وروسته زما استاد قتیبه ویل، خالده راځه چې ځو، قتیبه له قده یو څه ټیټ و، مټې یې مضبوطې خو خوله به یې تل له خندا ډکه وه، پر لاره ورسره روان شوم، لا به تر نیمایي رسېدلي وو چې قتیبه په کرس کرس وخندل، بیا غلی شو، ماته یې وکتل بیا یې وخندل، عجیبه وه، زما چې غوږونه له پښتو سره لږ اشنا وو، پوښتنه مې ترې وکړه چې څنګه چل دی، بس قتیبه له خندا شین و، په اردو یې راته وویل چې زه د اردو هم استاد یم، بس تر نظامي مرکزه یې خندل، هلته چې ورسېدو راته ویل یې پوهېږې ولې خاندم؟ ما ورته وویل چې نه ولې څه شوې؟

ویل ته مو چې اول ګیر کړې د جاسوس ږغ چې چا دربانديې وکړ هغه زه وم. ور منډه مې کړه قتیبه مې له غاړې کلک ونیو، غېږې مو شوې قتیبه د هر څه استاد و، خو زما لپاره یې سینه سسته کړه، پورته مې کړ او پر ځمکه مې وویشت، سوک مې پورته کړ او په اوږه مې یو نرم سوک وواهه، خو د دې ظالم خوله له خندا سسته وه، ماته غوصه راتله، بس پر غېږه مو سره زور شو اوښتو را اوښتو، ویل لیونیه ته نو څومره ساده یې پر کپه هم نه پوهېږې، پورته شوو جامې مو څنډ وهلې، قتیبه مخکې شو ویل را پسې راځه، تقریباً نیم ساعت مو وځغاستل، پر ټول ژوند مې په یوه ځل دومره نه وو ځغاستلي، سینې مې سوخت کاوو، ویل دا خو دې اوله ورځ ده، ځان کلک که، دې خبرې یې بیا زور راکړ، ما چې تر څو منډې ته ځان تیارولو، قتیبه تر مرکزه رسېدلی و، محمد پر نفلو ولاړ و، چې سلام یې وګرځاوو ویل خالده دلته راشه، ستړی خو نشوې، له قتیبه سره خیال کوه هغه زمونږ د ملګرو خوشطبعي کوي. ما ویل نه امیر صیب سات مو تېر شو، پوره درې میاشتې مې نظامي تمرینات وکړل، اوس په ځینو شیانو کې تر قتیبه مخکې یم، ځکه ما پوهنتون لوستی و، نظامي زده کړې لوستو کسانو ته یو څه اسانه وي، د څلورمې میاشتې پېل و، ځان مې د رابطې ځای ته برابر کړ، د کور نمبر له پخوا راسره و، رابطه مې وکړه له هغې خوا مې د مور ژړغونی غږ تر غوږ شو، ویل شریفه زویه ته چرته یې، ښه یې مریض خو به نه یې، ولې نادرکه یې، په یوه ساه مې مور ټولې پوښتنې خلاصې کړې. د مور خبرو اورېدلو ته زما زور ختم و، ښه په چغو چغو مې وژړل، شوخ قتیبه هم راسره تللی و، په لومړي ځل مې ولید چې د غره غوندې د لوړ همت لرونکی او باعزمه قتیبه د څادر لاندې ورې ورې سلګی وهي.





د محسن امت، ستر جهادي رهبر او قومندان شهيد عمر خالد خراساني رحمه اللّه ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

ليکوال: محمد ياسر

زوکړه او پيدايښت:

د ازادۍ د تحريک د اتل، حاجي صاحب ترنګزو بابا د مسکن و مدفن ځای مومندو ايجنسۍ د صافي تحصيل په قندهارو سيمه کې د ۱۹۸۰ ميلادي کال د جولائي د مياشتې په ۱۸مه نېټه دې فاني نړۍ ته سترګې غړونکي عبدالولي چې په جهادي ډګر کې په عمر خالد خراساني مشهور و، د يوه عام قبايلي خاندان سره تعلق درلود.

ظاهراً د يو عام خاندان سره تعلق لرونکی او د خدا داد صلاحيتونو خاوند عمر خالد خراساني رحمه اللّه د هغه ځلانده ستوري په څېر و چې د شپې په تاريکو کې د ورک شويو لارويو لپاره تر سهاره ځلېږي.

له ادبي ډګر څخه د جهادي ډګر په لور:

د علم او ادب سره مينه لرونکي عمر خالد خراساني رحمه اللّه خپلې ابتدايي ديني او عصري زده کړې د خپلې سيمې د علمي مراکزو څخه ترلاسه کړې وې، او د لا زياتو تعليماتو لپاره يې د نږدې ضلعې چارسدې او د کراچۍ تر مدارسو پورې سفرونه وکړل، مګر د امت مسلمه فکر هغه دې ته اړ کړ چې د کشمېر د مظلوم ولس آه ته لبيک ووايي او د کشمېر جهاد ته مخه کړي.

د جهاد پيل:

د نوموړي رحمه اللّه د قايدانه صلاحيتونو کمال و چې ډېر ژر د حرکت المجاهدين تنظيم لخوا نوموړی رحمه اللّه د مومندو ايجنسۍ د امير په حيث وټاکل شو.

شهيد عمر خراساني رحمه اللّه په شل کلنۍ کې د ۲۰۰۱م کال په لومړيو کې د خپلو جهادي سفرونو پيل وکړ.

په کال ۲۰۰۱م کې يې د مانسهرې ضلعې د «بټراسي» سيمې په عطر شيشه نومې کلي کې د « شاه اسماعيل شهيد رحمه اللّه» په معسکر او په وريسي کال يې د کشمېر په راولاکوټ ضلع کې د حرکت المجاهدين تر چتر لاندې سخت پوځي او نظامي تربيتونه او روزنې ترلاسه کړې، نوموړي رحمه اللّه به ويل چې د کشمير سختو تربيتونو يې متې ډېرې پياوړې او مضبوطې کړې دي، چې د ډېرې سختۍ او ځواکمنتيا له امله يې په متو کې څه اندازه توروالی هم راغلی و.

هغه د يادو جهادي پړاونو وروسته په هجېره

سیکټرانو مقام او نورو سختو ځایونو کې جهادي
تشکیلات هم تېر کړي وو.
نوموړي رحمه اللّه به د جهادي فعالیتونو
سربېره د ادب او ژورنالېزم (صحافت) سرګرمیو او
فعالیتونو کې هم خپله ونډه اخیستله، نوموړي
رحمه اللّه د یو ځایي ادبي تنظیم «مومند ادبي
غونچې» غړی هم و او د یو فعال غړي په توګه به
یې د هغوی په فعالیتونو کې ګډون کاوو.
نوموړي رحمه اللّه څه موده د قومي اخبار
«روزنامه اسلام» سره د ځایي نماینده په توګه هم
کار وکړ.

د اسلامي امارت دفاع او کوربتوب:

خو کله د یولسم ستمبر هغه لویه پېښه مخې ته
راغله، کومې چې نه یواځې د دغې سیمې بلکې د
ټولې نړۍ حالات یو مخ بدل کړل، د طاقت په نشه
مست کفري اتحادیو پر افغانستان برید وکړ چې
له امله یې لکونه افغانان د پاکستان قبایلي سیمو
ته د هجرت په سفر وکوچېدل.
پدغه وخت کې خراساني رحمه اللّه د بې سر و
سامانه راغلیو افغانانو خدمت ته پخپله او د
نوموړي د قایدانه صلاحیتونو په مټ نور ځوانان
هم متحرک او جذب کړل.
نوموړي رحمه اللّه د مومندو ایجنسۍ د حلیمزو
تحصیل په ګندهاب نومې سیمه کې د حرکت
المجاهدین د فعالیتونو لپاره یو دفتر جوړ کړی
و، چې د اسلامي امارت له سقوط وروسته بیا د
اسلامي امارت د ټپیانو او سترو ستومانو مهاجرو د
خدمت په مرکز بدل شو.
د مهاجرو حالات او پر افغانانو د شویو ظلمونو
له نږدې لیدلو وروسته هغه په افغانستان کې د
جهاد ګرمو سنګرونو ته مخه کړه او په کنړ جګړو
کې یې برخه واخیسته، د سقوط پر مهال نوموړی
رحمه اللّه د افغانستان په پروان ولایت کې په
تشکیل کې و.
د نړیوال کفر مخې ته په یوه زنګ د راغورځېدنکو
تش په نامه د پاکستان د حکمراني طبقې په
ظالمانه کردار نوموړی رحمه اللّه کله خاموش
پاتې کېدای شوای، په ۲۰۰٤م میلادي کال کې کله
چې د جنوبي وزیرستان په اړه خبرونه خپاره شول
چې ګویا د پاکستان پوځ د اسلامي امارت او نورو
جهادي ډلو پر واړندي پوځي عملیات کوي، نو دغو
خبرونو په ټولو قبایلي سیمو کې د جهاد یو نوی
روح پیدا کړ.
په داسې حالاتو کې په مومندو ایجنسۍ کې د
پاکستان د حکومتي پالسیو او د پوځ مخالفت ته
تیار یواځینی شخصیت همدا عمر خالد خراساني
رحمه اللّه و.
هماغه و چې نوموړي رحمه اللّه په ۲۰۰٦ میلادي
کال کې یو وار بیا خپل دفتر ته مخه کړه او هلته
یې د مومندو ایجنسۍ د هغه نومونو په لټولو پېل
وکړ کوم چې د ده په راجستر کې د ۲۰۰۱م کال څخه
ثبت وو.
دا د هغه خلکو نومونه وو څوک به چې د
افغانستان جهاد ته تلل او دلته به یې نوم او د
کور ادرس د دې لپاره لیکل کېدل، چې که چیرته
هغه شهید شي نو په لیکل شوي ادرس به یې
جسد خپلې کورنۍ ته سپارل کېږي.
له دغه راجستر څخه په شمار د یو څو کسو
نومونه ومونډل شول او ورسره د جهاد پاکستان
لپاره تماسونه ونیول شول چې په دې سره په
مومندو ایجنسۍ کې د جهاد یو میدان ګرم کړای
شو.
په دغه سلسله کې نوموړي د پېښور، کراچۍ،
پینډۍ، او چارسدې ضلعې ته سفرونه وکړل او د
مومندو ایجنسۍ سره تعلق لرونکو هغه خلکو سره
یې مشورې او ناستې وکړې چا چې جهادي فکر او
ذهنیت درلود او یا یې هم په افغان جهاد کې برخه

اخيستي وه.

په مومندو ايجنسۍ کې د تحريک قيام:

په ۲۰۰٦ ميلادي کال کې د خراساني رحمه اللّٰه په وزيرستان کې د ظلم و جبر خلاف په جګړه کې بوخت ستر مجاهد بيت اللّٰه محسود چې په راتلونکي کې د تحريک طالبان پاکستان امير هم وګمارل شو، سره ملاقات وشو چا چې په وزيرستان کې د بيت اللّٰه کاروان په نوم خپل جهادي فعاليتونه ترسره کول، نومړي خراساني رحمه اللّٰه د مومندو ايجنسۍ لپاره د بيت اللّٰه کاروان له لوري امير وټاکه او دا د هغه واړه تنظيم کوم چې بيت اللّٰه محسود رحمه اللّٰه د ځايي مجاهدينو لپاره ترتيب کړی و، له وزيرستان څخه بهر په بله کومه سيمه کې اولنی تشکيل او يا هم نمايندګي وه.

د وزيرستان په لور سفر:

په وزيرستان کې د خراساني رحمه اللّٰه د ملا داد اللّٰه رحمه اللّٰه سره هم ملاقات وشو او په ايتمې بټۍ نومي ويډيويي اصدار کې په نقاب پوښو استشهاديانو کې هم شامل و. هغه د فدايانو د استاذ قاري حسين رحمه اللّٰه سره د يو استشهادي مجاهد په توګه خپل نوم هم ليکلی و، خو بيا چې قاري حسين رحمه اللّٰه د خالد خراساني رحمه اللّٰه هغه خدای ورکړي صلاحيتونه وليدل نو هغه يې منع کړ. نومړي رحمه اللّٰه د سوات او د باجوړ ضلعو مجاهدينو ته په نظم کې د جمع کېدو لپاره پيغامونه وليږل چې په ځواب کې خراساني رحمه اللّٰه ته يو وفد راغی، د ياد وفد سره دوی دوه نفر نور هم اضافه کړل او وفد يې جنوبي وزيرستان ته وليږه، له ياد وفد څخه وروسته نوري هم يو لړ هڅې وشوې چې دا هغه وخت کې مثبتې ثابتې شوې او په پايله کې يې د ۲۰۰۷ ميلادي کال د ديسمبر په مياشت کې د تحريک طالبان پاکستان په نوم مسلح جهادي تنظيم وجود ته راغی.

د مومندو ايجنسۍ لپاره د نومړي ټاکل:

خالد خراساني د دې نوي جوړ شوي تنظيم لخوا هم د مومندو ايجنسۍ لپاره د امير په توګه وګمارل شو. مومندو ايجنسي د ديني تعليم او د جهادي ماحول له لحاظه د نورو سيمو په نسبت ډېره وروسته پاتې سيمه وه، په همدې وجه پکې جهادي نظم جوړول يو ناممکن او ستونزمن کار و. خالد خراساني رحمه اللّٰه خپل والد محترم هم له دې کار څخه منع کړی و، چې دا کار ته نشي کولای او وروسته به يې ويل چې زه له دې څخه ډارېدم چې دلته يو جهادي ډله جوړول ډېر ستونزمن کار دی، داسي نه چې په زوی پسې مې هېڅوک هم ونه درېږي مګر دا چې د اللّٰه جل جلاله نصرت و، او د خراساني رحمه اللّٰه د شپې او ورځې خدمت رنګ راوړ او په مومندو ايجنسۍ کې زرګونه مجاهدين د يو جهادي صف ملګري شول. له هرڅه مخکې نومړي رحمه اللّٰه هغه مجاهدين راجمع کړل چې جهاد يې کاوه خو په انفرادي ډول، له دې وروسته بيا نومړي رحمه اللّٰه په سيمه کې د سرکشه مجرمانو په ضد يو لړ عمليات ترسره کړل، په دغه لړ کې نومړي رحمه اللّٰه د مومندو ايجنسۍ د ټولو تحصيلونو د غلو، ډاکوانو، بدماشانو او نورو خود ساخته قانون سازانو خاتمه وکړه چې له جملې څخه يې د پنډيالۍ تحصيل د يوسف نومي مشهور غل سره د ټول ګروپ په ګډون د خويزو بايزو شير او سليمان په نامه مشهور قطاع الطريق، د صافي تحصيل معاذ، د يکه غونډ تحصيل نور هاشم د يادولو وړ مشهور جنايت کاره خلک وو.

له دې وروسته بيا نومړي رحمه اللّٰه يوه شرعي محکمه جوړه کړه او په مومندو ايجنسۍ کې يې د پخوانيو اوږدو جګړو او دښمنيو د ختمولو اعلان

وکړ. او خلکو ته يې د اسلامي شریعت مطابق
د فیصلو کولو لپاره شرعي عدالت ته د راتلو
دعوت ورکړ. له دې دوو کارونو څخه عام ولس ډېر
خوشحاله وو او اقرار به يې کاوو چې له دې وړاندې
به دوی د دښمنیو له امله په مخصوصو لارو په
ځانګړو وختونو کې سفرونه کولای شول خو اوس
امن دی او هره خوا آزادي ده.
د پاکستان پلازمېنې اسلام آباد په زړه کې چې کله
د دې زماني فرعون پرویز مشرف په لال مسجد
عملیات ترسره کړل او د ظلم و ستم یو لازوال کردار
يې د تاریخ په مخ کېښود نو خراساني رحمه اللّه
د برتانویانو د دور ستر مجاهد غازي ترنګزو بابا
د مزار ترڅنګ مسجد ته د لال مسجد نوم ورکړ او
د دغه ظلم و جبر په ضد يې د خپل جد و جهد او
انتقام اعلان وکړ. دا چې په سیمه کې امن، شرعي
محکمه او د مجاهدینو په اړه د خلکو مثبتې رایې
د پاکستان د حکومت او پوځ لپاره د برداشت وړ نه
وې نو د عملیاتو فیصله يې وکړه.
د دغه جنګ په اړه خراساني صاحب ته ډېرې
مشورې ورکړای شوې چې باید له سولې او له یو څه
راکړې ورکړې څخه کار واخیستل شي خو نومورې
رحمه اللّه د جنګ مشوره قبوله کړه.
د فسادګرو په وړاندې تصفیوي عملیات:
د مومندو ایجنسۍ په ټولو تحصیلونو کې سره له
دې چې حکومت پلوه تش په نامه امن کمېټۍ يې
هم جوړې کړای شوې وې، پوځ هغه تلفات ولیدل
چې تر قیامته به يې په مغزو کې پراته وي.

جهادي کارنامې او اتلولی:

د مجاهدینو لپاره تر ټولو مضبوط مرکز د خویزو
بایزو تحصیل سوران دره، غنم شاه، میتۍ، او
شونکرۍ کنډۀ باندې پوځ خپل اخري طاقت «
ایس ایس جي» ځواک هم استعمال کړ مګر هغوی
هم مجاهدینو د مرګ کندې ته ګزار او په خپل بد
انجام ورسول. چې وروسته يې دښمن خپله هم د
مجاهدینو د جنګي تخنیک اقرار وکړ چې فقط په
یو ځای د هغوی ۷۰ تنه پوځیان او ایس ایس جي
کمانډویان وژل شوي وو.
نومورې رحمه اللّه له خیبره تر کراچۍ پورې په
دښمن د وسپنې نېنې وچیچلې، درانه ګزارونه
يې ورکول او خوبونه يې پرې حرام کړي وو، چې
له جملې څخه يې د مومندو ایجنسۍ هیډکوارټر
غلنۍ، د نحقي په پوځي قرارګاه، د لاهور پر مال
سړک پر پولیسو، د کوټې په سرینا هوټل کې په
پوځیانو، او د چارسدې پر سپشن کورټ استشهادي
بریدونه يې د یادولو وړ دي.
نومورې رحمه اللّه په ۲۰۱۱م کال کې د شیخ اسامه
رحمه اللّه د انتقامي بریدونو په سلسله کې په
شبقدر کې د ایف سي اجیرو ځواکونو پر قلعه یو
استشهادي برید مرتب کړ چې پکې له سلو زیات
ایف سي عسکر ټپیان او ووژل شول.
نومورې رحمه اللّه د کراچۍ او کویټې پر هوایي
ډګرونو د شویو بریدنو لپاره هم استشهادیان
لېږلي وو، او له دې پرته يې د کویټې، کراچۍ،
شکارپور، حیدر آباد، چارسدې، نوښار او کوهاټ په
ګډون نورو یو شمېر ضلعو کې لسګونه استشهادي
بریدونه ترسره کړي وو. په باجوړ ایجنسۍ کې د
پوځي عملیاتو په دوران کې نومورې رحمه اللّه
مومندو ایجنسي د یو کیمپ «بیس» په توګه
وکاروله او د هغه سره مربوط مجاهدین به په
ډلو ډلو د باجوړ ایجنسۍ د مجاهدینو مرستې ته
ورتلل. همدغه راز له باجوړ ایجنسۍ او سوات څخه
د مجاهدینو له هجرت وروسته نومورې رحمه اللّه
د یو حقیقي انصار په توګه خپل کردار ترسره او
هغو مجاهدینو ته يې د ژوند ټولې اسانتیاوې
او ضروریات پوره کړل. په مومندو ایجنسۍ کې
يې خارجي مجاهدینو او اسلامي امارت یو شمېر
مشرانو ته مرکزونه او د ژوند نور ضروریات پوره

کړل.نوموړي رحمه اللّه څه موده د اسلامي امارت د اسير رهبر شيخ استاذ ياسر حفظه اللّه مېلمه پالنه هم کړې وه.

د مجاهدينو او يتيمانو پالنه:

نوموړي رحمه اللّه د مجاهدينو د کورني ضروورياتو په پوره کولو، د هغوی د مريضانو د علاج او د مجاهدينو په مسلح کولو کې امتيازي شان او جذبه لرله. د ملګرو مالي ضروريات پوره کول د هغه له اولينو ترجيحاتو څخه وو، تر څو هغوی ته په جهادي فعاليتونو کې کوم خنډ او خنډ مخې ته رانشي. د کونډو او يتيمانو په (مصارفو) کې به يې هېڅ قسم تاخير او کوتاهي نکوله، د ۵۰ لکو روپيو سرمايه لرونکی خپل پلرنی جايداد يې خرڅ او د دغه پيسو پنځمه برخه يې په همدې شعبه کې مصرف کړه.

له علماء کرامو سره د نوموړي عقيدت:

نوموړي رحمه اللّه به له علماء کرامو او هغوی به له دغ سره ډېره مينه کوله، هماغه و چې شيخ الحديث مولوي نور الهدی رحمه اللّه د عمر خالد خراساني رحمه اللّه سره د ملاقات لپاره له کراچۍ څخه خېبر ايجنسۍ ته سفر وکړ، له دې پرته هغه د شيخ نصيب خان شهيد رحمه اللّه، مولوي سميع الحق شهيد، شيخ الحديث مولانا شير علي شاه او پير طريقت مولوي ذوالفقار نقشبندي رحمهم اللّه سره په تماس کې وو.

د نفس د تزکيې په سلسله کې نوموړي رحمه اللّه د کراچۍ د جامعه دار الخير د مهتمم مولوي اسفنديار خان رحمه اللّه سره خپل بيعت کړی و. نوموړي رحمه اللّه د ژوند تر آخره تر بلوچستانه د ټولو مجاهدينو مالي مرستې رواني ساتلې وې.

د نوموړي رحمه اللّه دفاعي او عسکري پلانونه:

نوموړي رحمه اللّه به هر وخت د چمتو پاتې کېدو هڅه کوله او د ورځو ورځو په اندازه سفر لپاره به هر وخت اماده و. نوموړی به هر وخت د دې خبرې په فکر کې وو چې مجاهدينو سره دښمن ته نږدې يوه سيمه په ولکه کې وساتي ترڅو له هغه ځايه په اسانۍ سره د دښمن پر ضد چريکي جګړه وشي.

د همدې مقصد لپاره نوموړي رحمه اللّه د امير محترم حکيم اللّه محسود شهيد رحمه اللّه سره خېبر ايجنسۍ کې د پوځ پر ضد د جګړې کولو لپاره مشوره وکړه او د دغه جنګ لپاره يې ټول تحريک راجمع او يو موټی کړ چې په پايله کې يې ګڼ شمېر سيمې د مجاهدينو لاس ته ولوېدې او مجاهدينو ته د مليادونو روپو وسله د غنيمت په توګه لاس ته ورغله. له دې پرته نوموړي رحمه اللّه د افغانستان په کنړ، ننګرهار، او پکتيکا ولايتونو کې په جهادي فعاليتونو کې د خپلو ملګرو په ګډون برخه اخيستې وه.

نوموړي رحمه اللّه د اسلامي امارت ضد جاسوسان او نور يو شمېر فتنه خورونکي خلک په نښه او ووژل. د هغه يو د کاکا زوی انس شهيد رحمه اللّه او د هم دغې سيمې يو بل مجاهد عبدالودود شهيد رحمه اللّه د پکتيکا ولايت د برمل ولسوالۍ د مرغې سيمې په مشهوره بمبارۍ کې شهيدان شوي وو، چې د وينو برکت يې مومندو ايجنسۍ ته زرګونه مجاهدين وروبخښل.

د نوموړي په وړاندې د دښمن پروپاګند:

دښمن د هغه له درنو او پرلپسې بريدونو ډېر په تنګ شو او څو څو واره يې د هغه د له منځه وړلو هڅه وکړه او د نوموړي پر ضد يې په يو شمېر سيمو کې خطونه وغورځول. خراساني رحمه اللّه يو وار د ناټو صليبي ځواکونو په چاپه کې سخت ټپي شوی و او دوه واره بيا د نيول کېدو او يا هم د

دۀ د شهید کولو لپاره د دښمن له داموته څخه روغ وتلی و.

سربښندني او قرباني:

د نومورړي رحمه اللّه مشر ورور شاه ولي، دوه د ترۀ زامن عبدالبر او انس، او يو ترۀ محمد رفيق رحمهم اللّه په دې لارکې شهيدان شول. او په لسګونو نورو خپلوانو ته يې استخباراتي ادارو په پټو زندانونو کې ډول ډول سزاګانې ورکړې دي.

ځانګړي صفات او لارښوونې يې:

نوموړی د خپلو لپاره ډېر يو نرم او مهربان و، خو د دښمن په اړه به يې ملګرو ته سخته او کلکه نظريه ورکوله، او هغوی ته به يې په هر حال کې د شاتګ او له خپل هوډ څخه د نه وروسته کېدو ترغيب ورکولو. په خپلو بيانونو کې به يې ويل چې دښمن به زمونږ د بل چا سره لاس او ګرېوان کولو هڅه کوي، مګر تاسو به په همدې محاذ کې خپلې جګړې ته ادامه ورکوئ. نوموړي به پخپله په هره شعبه کلک نظر ساتۀ خو د ميډيا او استخباراتي شعبو سره يې شخصاً ډېره مينه وه او همدا وجه وه چې د دې دواړو شعبو به يې امتيازي خيال ساتۀ او وخت په وخت به يې مسؤلين لا ښه کار کولو ته تشويقول.

د جماعت الاحرار قيام:

نوموړي رحمه اللّه چې کله په تنظيم کې ځينې د ناخوښۍ او ستونزمن حالات وليدل، نو د يو څه وخت لپاره يې له تنظيم څخه جدايي غوره کړه او د جماعت الاحرار په نوم يې د مجاهدينو يو بل تنظيم جوړ کړ، هغه خپله تګلاره بدله نکړه، او نه يې هم دښمن د ارام سا اخيستو ته پرېښود بلکې پر دښمن يې داسې درانۀ او خونړي بريدونه وکړل چې تر نسلونو به يې په ياد وي.

نوموړي رحمه اللّه باندې امريکا او ملګرو ملتونو هم بنديزونه ولګول او هغه مهال يې د دۀ د سر قيمت درې مليونه ډالره مقرر کړ. دښمن څو واري د هغه د مرګ دروغجنې افواګانې هم خپرې کړې چې دوه واري يې نوموړي د ردولو پرځای خاموشي اختيار کړه او په دغه دوران کې يې له موقعې څخه په استفادې يو لړ فعاليتونه ترسره کړل.

په سياسي ډګر کې د نوموړي رحمه اللّه زيار او هڅې:

نوموړی رحمه اللّه د ۲۰۲۰ ميلادي کال د اګست په مياشت کې يو وار بيا له تحريک طالبان پاکستان سره يوځای شو او د تحريک د رهبري شوری د يوه غړي په حيث يې خپل کار ته دوام ورکړ، نوموړي رحمه اللّه په خپل آخري عمر کې د رهبري شورى سره سره د اعلامي کمېسيون او د پاکستان د پوځ او حکومت سره د مذاکراتو لپاره د جوړې شوې کمېټۍ د يو فعال غړي په حيث خپل خدای ورکړي صلاحيتونه صرف کړل.

شهادت:

نوموړي رحمه اللّه د ۲۰۲۲ ميلادي کال د اګست د مياشتې په ۷مه نېټه د افغانستان د پکتيکا ولايت په برمل والسوالۍ کې په يوه نامعلومه ماين چاودنه کې په نښه کړای شو، چې د درې نورو ملګرو په ګډون يې د شهادت سپېڅلی مقام ترلاسه کړ، له دې ستړي نړۍ يې سترګې پټې او روح يې خپل حقيقي مالک ته وسپاره.

نحسبه کذالک واللّه حسيبه

د استشهاد له منارو د دیدار تر تلوسو!

(دوهمه برخه)

لیکوال: سیف الدین هلال

ویل انسه د اسلام د تاریخ په اړه مطالعه کوې او کنه، ما چې ترڅو د پوښتنې ځواب ته ځان برابرولو، دی پاڅېد، ویل ته هم ږغ نه کوې اوس به چاې سوړ شوی وي، صبر زه یې راوړم، په چابکو قدمونو له دروازې ووت، لږ وروسته لاندې په زینو کې د پیالو کړنګا شوه، کرار کرار دروازې ته رانږدې کېده، دروازې ته په را رسېدلو یې ورو ږغ راوکړ: انسه دروازه خو خلاصه کړه، ورپاڅېدم کرار کرار مې دروازه ورخلاصه کړه، له پخو هګیو او شېدو یې ډک پتنوس په لاس کې را اخیستی و، په ورو ورو قدمونو مخته ولاړ او پتنوس یې پر ځمکه کېښود، د پتنوس له سره یې کوچنی دسترخوان را واخیست او زما تر مخ یې هوار کړ، دوه پیالې یې له شېدو ډکې کړې، یوه یې زما مخته کېښوده او بله یې خپلې مخې ته، ویل انسه چاې به هم څکو او کیسې به هم کوو.

ښا؛ زما د پوښتنې ځواب خو پاتې شو، صلاح الدین پوهېده چې ما د مکتب د خرڅ لپاره یوه یوه روپۍ ټولوله او په هغو به مې بیا کتابونه اخیستل، ما ورته وویل: وروره د رسول اللّٰه له پېدایښت څخه آن تر اوسه مې د اسلام تاریخ څه نا څه لوستلی دی، خو چې ډېره مطالعه مې پکې کړې هغه د صحابه کرامو رضي اللّٰه تعالی عنهم تر سیرت څخه را وروسته د صلاح الدین ایوبي تاریخ دی، د صلاح الدین له نوم سره یې په نریو بریتو کې په فاتحانه شکل وخندل، د صلاح الدین له مسکا سره ما خپلو خبرو ته ادامه ورکړه، هو رښتیا، یو ځل مې د نورالدین زنګي تاریخ لوست یو ځای ته ورسېدم چې یوه ورځ نورالدین زنګي له خپلو نظامیانو او سپه سالارانو سره په څه مشوره لږیا دی، په همدې وخت کې یو سپین ږیری له ساتونکو تېرېږي او د شورا منځ ته ځان رسوي، د سپین ږیري کالي شلېدلي او په وینو لړلی دی، په مخ او بدن یې د تازه زخمونو ژورې د انسان زړه برېښوي، د سپین ږیري په

لاسونو کې یوه په وینو لړلې پڼده ده، کله چې دربار ته داخلېږي سمدلاسه نورالدین زنګي ږغ پرې کوي: بابا څه درپېښه شوې ده؟ ووایه که چا ظلم درسره کړی وي چې تر لمر لوېدو وړاندې یې سر قلم کړم.

سپین ږیری بابا په چغو چغو خپله کیسه داسې پېلوي.

واوره اې امیره: زمونږ په ښار (الرباء) باندې څو شپې تر مخه عیسایانو یرغل راوړ، عیسایانو ښار ته په ننوتلو د بې ګناه انسانانو قتل عام شروع کړ، ما خپل میړني ځوانان لیدل چې څنګه د عیسایانو د آسونو لاندې کېدل. امیره! عیسایان دومره وحشي وو چې له سپین ږیرو او ماشومانو سره یې د معیوبینو او زنانوو په وژلو هم صرفه ونکړه، د الرباء ښار ټولو کورونو ته یې اور ور واچاوو، پېغلې انجونې به یې لومړی بې عفته کولې او وروسته به یې په ډېره بده توګه په شهادت رسولې.

واوره اې امیره! زه په شپه شپه کې له ښاره راووتلم، ما د هغو با عفته پېغلو سوزناکه کریکې اورېدلې چې د خپل عزت د خوندي ساتلو لپاره یې د مؤمنانو امیر نورالدین زنګي ته د فریاد چغې وهلې، له بامونو مې د هغو عفیفو پېغلو را لوېدل لیدل چې د عیسایانو څخه د بې عزتۍ څخه د خلاصون لپاره یې ځانونه شهیدانول، سپین ږیري په پوره جوش سره درباریانو ته د شهادت ګوته ونیوله او بیا یې ټول مخاطب کړل. واورئ اې د دربار خلکو! تاسو د خپلو خویندو له عزته خبر یاست؟

سپین ږیری په ملا کړوپ شو او په وینو لړلې پڼده یې خلاصه کړه، د نورالدین زنګي مخته یې یوه پڼده په وینو لړلې شلېدلې ټیکرې واچول، او بیا یې په ډېر سوزناکه غږ امیر مخاطب کړ.

اې امیره ! دا ټیکرې د الرباء د ښار په ټولو کوڅو کې پراته دي، د دې ټیکریو معصومې مؤمنانې د عیسایانو د بد فعلۍ ښکار ګرځېدلې دي، نورالدین زنګي په یوه جلالي شان سره خپله توره له تیکې را وویستله، سپین ږیري ته وایي بس دی، نورالدین نور د دې خبرو د اورېدو تاب نلري، په همدې جلسه کې د الرباء په ښار د یرغل فرمان صادروي، مجاهدین د سهار په تیاره کې په یوه لیکه په خپل امیر پسې روان دي، امیر نورالدین زنګي لکه زخمي زمری د عیسایانو د وینو د څښلو لپاره شیبې شماري، آسونه لکه د تالندې پرکه په یوه ساه زغلي، نورالدین په خپل ټول سرعت له خپلو استشهادي مجاهدینو سره ځان د الرباء ښار ته رسوي، له رسېدو سره سم د تکبیر په هیبتي ږغ سره ټول په یوځل په عیسایانو برید کوي، نورالدین زنګي په کم وخت کې له عیسایانو د الرباء ښار بېرته نیسي او عیسایان د نینوا صحراوو ته شړي؛ ما لا تر اوسه کیسه نه وه خلاصه کړې چې سلګیو واخیستم، زما له سلګیو سره صلاح الدین خپل مخ په دسمال پټ کړ او په سلګو شو، سترګې یې سرې واوښتې په وجود یې د انتقام لمبو زور واخیست، ما ځان لږ سره سمبال کړ، مګر صلاح الدین لکه له موره مرور ماشوم په سلګیو و، ما به چې څومره هم دلاسا کاوو او قناعت به مې ورکاوو، ګټه یې نه کوله، ویل انسه اللّٰه به له موږ څخه خامخا په زندانو کې د بندي خویندو پوښتنه کوي، اللّٰه به وایي چې ته ژوندی وې مګر ستا مؤمنې خویندې د کفر په کرغېړنو زندانو کې لکه یتیمې مرغۍ حصارې وې، د صلاح الدین خبرې ورو ورو ډېرېدې، ویل انسه ته پوهېږې!؟

کفار په ډېرې سپین سترګۍ سره مسلمان ځوانانو ته پېغور ورکوي چې ستاسو ځوانانو د مقابلې لپاره

مونږه خپلي پېغلي درلېږلې، د دې خبرې سره سم صلاح الدين يو ځل جتګه وخوړه، پورته شو او په يو جلالي انداز يې د شهادت ګوته پورته کړه، د سترګو تور يې د آسمان لور ته ونيول او په پوره ايماني هوډ يې دا درانه کلمات په ژبه تکرارول:

يا پروردګاره! که مې ستا پر دين ځان ټوټه ټوټه نکړ، ما ته د نور الدين زنګي لمسى مه وايه، يا اللّٰه که ستا په لاره کې سل وارې ومرم مګر بيا به هم ستا له لارې پښېمانه نشم، صلاح الدين له خپل پروردګار سره په يو معنوي مناجات لګيا و، له هر څه بې پروا د تنکي عمر او راسخې ارادې دې ځوان له خپل پرورکار سره په ازلي وعدو د وفا رسۍ اړولې، ما به مې چې خپلې اوښکې څومره تم کړې مګر بيا به هم کمزورى شوم، صلاح الدين ښه په پراخ زړه د خپلو آرمانونو يادونه تازه کول، ځان ته به غوصه راغله چې ستا همزولي د اللّٰه د لښکرو مل دي مګر ته د د نيا په فاني ژوند اخته يې، زما هم سلګۍ په چغو بدلې شوې، طاقت مې ونښو ور پورته شوم او د صلاح الدين په اوږو مې لاس کېښود، د اللّٰه په وړاندې د وفادارۍ په هره دعا مې يې آمين ويل، د صلاح الدين سترګي لکه د شاهين تکې سرې شوې، پر مخ يې د اوښکو راڼه ځاڅکي لکه په ګل وريدلي شبنم يو يو لاندې لوېده.

هوکې؛ د خداى په مينه مست هغه ځوان چې لايې د خط او خيال کلونه پاتې وو، د الهي حب په ځانګړو فيوضاتو نازول شوى و، لاسونه يې د وروستي ځل لپاره لپه کړل، په يوه ځانګړې حالت يې د کائناتو له پالونکي څخه د زړه په زمزمو د خپلو آرمانونو د پوره کېدو غوښتنه کوله، تر دعا وروسته مې خيال شو چې دسترخوان لا هموار پاتې دى، خپله پياله مې په يو ځل په سر واړوله، صلاح الدين په سر دسمال خپور کړ، داسې لکه يو مسافر چې د ترورمۍ په مينځ کې کومې رڼا ته سترګۍ يوسې، ژبه يې لکه د شاتو مچۍ په اذکارو رېبدله، کرار کرار زنګېده، سخت خفه وم، ولې به مې هغه کيسه کوله، کاش يو بل تاريخ مې بيان کړاى واى، ښه کړى وروسته يې سترګې وغړولې، ويل ته ولې چاى نخورې، ما ويل ما خپله برخه وخوړله، ستا برخه پاتې ده، ويل نه داسې نه کېږي، يو ځاى به يې له ماسره بيا خورې، زما پياله يې بيا له شېدو را ډکه کړه، په سر يې رومال اچولى و، او د چاى په خوړلو لګيا وو، ما به چې څومره هڅه وکړه مګر د صلاح الدين سترګې له ځمکې پورته نشوې، د دسمال پيڅکه به يې نرمه د سترګو مينځ ته يوړه او اوښکې به يې پرې وچې کړې.


صلاح الدين هم انسان و مګر له نورو انسانانو بيل، د هغه زړه د أمت له درده ناقرار و، هغه غوښتل لکه د صلاح الدين ايوبي خپله توره د اقصى په ازادۍ کې وځرخوي، کله کله به زه هم د خيال نړۍ په مخه کړم او له صلاح الدين سره د بيت المقدس تر سواحلو به ولاړم، کتل مې چې د پيکا شريد مې له سينې تاو کړى وي، يهود مخکې وي او مونږ وريسې يو، زه خپل شريد ختم کړم مګر يو بل مجاهد مې بيا د پيکا پر سر يو بل شريد واړوي، زه په همدې خيال کې وم چې چا مې پر اوږه لاس کېښود، وترهېدم چې شاوخوا مې وکتل صلاح الدين مسکى مسکى کېده، ويل چرته تللى وې انسه، ځان مې راټول کړ، په سترګو مې يو ډول خوږ خوب راته، ويل مې همدلته وم ګرانه، سترګې مې پټې پټې کېدې، ويل مې چې همدلته د خپلو خيالونو په نړۍ کې څو کلونه ويده شم، دا شيبې زما په ژوند کې بيخي عجيبې وې، په لومړي ځل مې ليدل چې په ويښه د اقصى په دوره وتلى يم، د دې ټولو بدلونونو سره سره به مې چې د صلاح الدين په نوراني څېره سترګې ولګېدې، وبه پوهېدم چې له داسې انسان سره مخ شوى يې چې په لېدو يې اللّٰه در يادېږي.

صلاح الدين لوښي راټول کړل او په ښکته کولو يې لګيا شو، ما څو ځل هڅه وکړه چې د تلو اجازه ځينې واخلم، مګر بيا به مې پر ژبه د يو لفظ د ويلو جرأت نه و.

ادامه لري







د پاکستاني ارزښتونو، ملي منابعو او ولسونو ریښتوني ساتونکي؛ زورواکه حکومتي او پوځي چارواکي او که کمزوري طبقات!؟

لیکوال: مولانا قاري ثاقب اسلام صاحب

لکه څرنګه چې مونږ مشاهده وکړه او ومو لیدل چې د تیرې اګسټ میاشتې په ۲۲مه نیټه سهار مهال شاوخوا اووه بجې د بټګرام ضلعې د الائي پاشتو په علاقه کې چې یوه زانګو چې د دغې علاقې خلګ ورته په خپله اصطلاح کې ډولۍ وايي، په داسې مهال یې دوه رسیانې وشلېدلې چې سواریان یې ټول د مکتب شاګردان وو او د یو استاد سره د سهار مهال د خپل ښوونځي په لور روان وو، پکې ناست اته ځوانان د شپې تر تاریکو پورې د مرګ په انتظار ناست وو، بل لور ته دې مظلومانو حکومت او ریاستي ادارو ته چغې ووهلې خو د دغو مظلومو ځوانانو ږغ چا وا نه ورېد، د ډېر سوال او زاریو نه وروسته یې شپږ ساعته بعد د غرمې په دولس بجو هیلکوپټر راولیګه، د عام اولس او پاکستاني وګړو دا فکر و چې اول نمبر پوځ به د هیلکوپټر په رارسېدو سره سم ټول بند پاتې ځوانان وژغوري، خو داسې ونشول، بلکې لومړی خو اولنی هلیکوپټر ناکام شو، خلګ د دویم هیلکوپټر په انتظار او پدې امید وو چې دا به یې وژغوري، خو هغه هم ناکام شو، بیا د خلګو اخیرنی امید د ائیر فورس (هوائي ځواک) هیلکوپټر ته و، کله چې مازدیګر مهال یاد هیلکوپټر راغی، هغه هم ناکامه او نامراده بېرته واپس ستون شو، دا کړۍ خلګ حیران او پخپل کړي باور پښیمانه او شرمنده وو، کله چې د ماښام تیاره را نېږدې شوه، د عام اولس او د پاتې بند ځوانانو امیدونه د خاورو سره خاورې شول، او چا چې ورته د هیلکوپټر د راتللو نه مخکې کوم نظم ریکارډ کړی و، (چې اې ګورنر صاحبه ستا مننه) هغه هم په ټولنیزو رسنیو کې د سخت غبرګون سره مخ شو، بل طرف د شانګلې ضلعې یو ځوان صاحب خان د سهار نه د ژغورنې د عملیاتو په انتظار و، ترڅو د ایثار او قربانۍ دې میدان ته ور ودانګي، خو تر ماښامه پورې حکومت او د بند پاتې ځوانانو والدینو اجازه نه ورکوله، بالاخره کله چې ټول امیدونه، هیلې او اټکلونه ناکام شول، نو د صاحب خان نومي ځوان طرف ته د حکومت او قوم توجه ور واوړېده، او د ژغورنې د عملیاتو اجازه

يې ورکړه، صاحب خان ډېر په اخلاص، شجاعت، عاجزۍ او د خپل سر په قربانۍ د ایثار په نوي باب کې قدم کېښود، او په خپل هدف او مقصد کې کامیاب شو، چې په درې ساعتونو کې یې اووه پاتې ځوانان په ډېره خوندي توګ وژغورل، هماغه و چې خلګو د تکبیر په ملکوتي نعرو سره د دې خبرې اقرار وکړ، چې زورور پوځ ناکام او کمزورۍ صاحب خان کامیاب شو.
د دې تمهید او واقعې په تناظر کې د پاکستان چې کومې دوه رسۍ شلېدلې دي، او په یوه رسۍ ډېر په نازک مورکې ولاړ دی، د دې ساتنې او خوندیتوب لپاره هم دوه فکرونه شتون لري، یو قسم خلک پدې فکر دي چې د پاکستان پوځ او اداري ډېرې مضبوطې، مستحکمې او منظمې دي، دوی به یې د بېګرام د الائي د اتو بند پاتې ځوانانو پشان بچ کوي. خو دا فکر ناکام او نیمګړی دی، ځکه چې چا هم تکبر کړی او په دنیاوي اسبابو یې اعتماد او توکل کړی، هغه همېش په دنیا او اخرت کې ناکامه، ذلیله او د شکست سره مخ شوی دی. ځکه تکبر ډېر بد صفت دی، حدیث مبارک کې راځي چې: «من تکبر وضعه اللّه». (رواه البیهقي)
چا چې تکبر وکړ، هغه به اللّه پاک ذلیله کوي، د مصر فرعون هم د بادشاهۍ په نېشه کې و، او لویي یې وکړه، چې: «انا ربکم الاعلی». (النازعات: ۲۴)
زه ستاسو لوی رب یم، اللّه پاک د فرعون تکبرپه دریابې نیل کې لاهو کړ، او د موسی علیه السلام مظلوم اوکمزوري پوځ او لښکر ته یې برۍ ور په برخه کړ، د پاکستان پوځ او اداري یوازې تکبر نه کوي، بلکې د هلاکت چې څومره اسباب دي، هغه ټول په دوی کې موجود دي، پوځ صرف اته ځوانان نشي ژغورلای، نو په پاکستان کې مېشت څلورویشت کروړه عوام به څنګه وژغوري!؟؟
دا زورنده زانګو چې دوه رسۍ (اقتصادي او امنیتي رسۍ) یې لاله پخوا څخه شلېدلي دي، څنګه به بچ کړي!؟ په پښتو کې یو متل دی چې دا شړشم به ګل نشي.
دویم فکر د هغه سنجیده، متدینو او مخلصو خلګو دی چې وایې: د پاکستان ریښتوني ساتونکي فوځ اوادارۍ ندي ځکه دوی په ډالرو خرڅ شوي غلامان دي، بلکې اصل خیر خواهان او بچ کوونکي یې د دی بې سرپرسته ملک د تحریک طالبان هغه کمزوري او مخلص مجاهدین دي، چې په حقیقت کې دین او ملک ته وفادار دي، ځکه چې که مونږ په تېر تاریخ نظر واچوو، نو اللّه پاک د خپل دین خدمت او حفاظت ذمه واري همېش د کمزوري مخلوق نه اخیستې ده، ابرهه چې یو ظالم او متکبر بادشاه و، چې کله یې په بیت اللّه شریف حمله وکړه، نو اللّه پاک توتکرکي مارغان د خپل کور د حفاظت لپاره راولیږل، چې په پنجو او خولو کې یې کاڼي وو.
او بغیر د جاسوس، سِم وغیره نه یې داسې په نښه کړل چې دنیا ورته حیرانه پاتې وه، ابرهه په خپل شوم او ناوړه مقصد کې ناکام شو، پوځ یې ختم او تکبر یې د خاورو لاندې شو، هم دغه شان کله چې زمونږ خوږ پیغبر صلی اللّه علیه وسلم د مکې نه هجرت کولو، او دښمنان وریسې وو، نبی صلی اللّه علیه وسلم په غارِ ثور کې ترې پناه واخیسته، دااللّه پاک کمزورې مخلوق کونترې او جولا ورته داسې کلک حصار جوړ کړ، چې دښمنان پخپل بد مقصد کې ناکام او د اللّه پاک محبوب پیغمبر صلی اللّه علیه وسلم محفوظ وساتل شو.
په تېر نیږدې وخت کې هم په عامه ټولنه کې خلګو

طالب ته ډېر د کمزوري په نظر کتل، اللّٰه پاک ترې د
خپل دين د حفاظت داسې خدمت واخيست، چې دوه
پنځوس ملکونه يې د شکست سره مخ کړل، او شکست
خورده يې د افغانستان څخه رخصت کړل، او د هغه
بادارانو چې کوم د صف اول اتحاديان او غلامان دي،
هغوی هم د مجاهدينو په مقابل کې د شکست او
ماتې په درشل ولاړ دي، او د اللّٰه پاک په مدد او نصرت
به ډېر ژر په پاکستان کې دفتحو زيري خواره شي او دا
د اللّٰه پاک وعده ده چې نصر من اللّٰه و فتح قريب.
(سورة الصف: ۱۳)

او زمونږ پرې کامل ايمان او يقين دی اګرچه بعضې
خبرې د وخت نه مخکې په فهم کې نه راځي، خو وخت
پخپله دا حقائق ثابتوي او پدې باوړ مونږ څکه يو،
چې په حديث کې راځي: وعن ابي درداء رضي اللّٰه
عنه قال: قال رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم انما
تنصرون وترزقون بضعفائكم. (رواه احمد)

نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايي: ستاسو
کومک او تاسو ته رزق د کمزورو خلکو په وجه
ميلاوېږي، نو په دې وخت کې کمزوري خلک مجاهدين
دي، او جهاد خو هغه مظلوم عمل دی چې د ټولې
دنيا مسلمانان پرې ايښی دی او کوم خوش نصيبه
خلک چې جهاد کوي هغوی ته دهشت ګرد او
فساديان وايي، خو کله چې فکرونه خراب شي نو بيا
پکې روغ رنځور ښکاري او فسادي پکې خيرخواه او
خيرخواه پکې فسادي ښکاري.

د دغو خرابو فکرونو نتيجه دا ده چې د پاکستان
د بچاؤ او ساتنې لپاره چې کوم فکرونه د پاکستان
اولس کوي، دا خطاء دي، د هغې يوه وجه دا هم
ده چې په پاکستان کوم طاغوتي او جمهوري نظام
حاکم دی، د هغه نحوست د ژوند هره شعبه دومره
اغيزمنه کړې ده چې عام خلک پکې نور د ژوند کولو
نه ستړي دي. غلا، زنا، بد امني داسې عروج ته
رسېدلي دي چې په تېر تاريخ کې يې مثال په نظر
نه راځي. او د پاکستان په اولس مسلط بې رحمه
حکمرانان په ډالرو او د اولس په ټيکسونو داسې حد
ته رسېدلي دي چې د قوم وينې څښي او خپل بينک
بيلانس پرې زياتوي.

نو اې د پاکستان مظلوم قومه! تر څو چې مو خپل
حالت نه وي بدل کړی، اللّٰه پاک در باندې دا حالت نه
بدلوي څکه دا د اللّٰه پاک قانون دی: ان اللّٰه لا يغير
مابقوم حتی يغيروا ما بانفسهم.(سورة الرعد: ۱۳)
نو راپاڅئ! خپل حالت بدل کړئ نور د غلامۍ
ځنځيرونه مات کړئ او د خپل ښه مستقبل لپاره د
قوم د حقيقي خير خواهانو سره عملي ودرېږئ او
قدر يې وکړئ، که عملي يې نشئ کولای، نو تعاون
او همکاري ورسره وکړئ او که دا هم نشئ کولای، نو
پخپلو نيکو دعاګانو کې يې ضرور ياد ساتئ.
(اللّٰه پاک دې زمونږ او ستاسې ټولو حامي او ناصر شي،
آمين) و ما علينا إلا البلاغ

دوهمه برخه

ليکوال: الشيخ انور العلوقي رحمه اللّٰه

ژباړه: ابو قتاده



په جهاد کې د کډون او شريکېدو طريقې او شرعي حل لاره

۶_ د مجاهد د کورنۍ پالنه کول:

د مجاهد د کورنۍ او ټبر حفاظت کول، ضرورتونه يې پوره کول، اقتصادي ملاتړ او مالي کومک ورسره کول، او د هغوی د عزت او ناموس ساتنه کول بې انتها د اجر او ثواب ذريعه ده، رسول اللّٰه فرمايلي دي: چا چې د مجاهد شاته د هغه د کور خيال وساته، د مجاهد سره به سم نيم ثواب د ده هم وي (مسلم)

د مجاهد د ټبر او کورنۍ حفاظت او ساتنه په شاته پاتې کېدونکي باندې داسې لازمه ده لکه د خپلې مور حفاظت، کوم چا چې د مجاهد کوروالې سره خيانت وکړ، د قيامت په ورځ به اللّٰه مجاهد ته امر وکړي، چې د دغه خيانت کوونکو له اعمالو څخه چې څومره نيکياني اخلې، ترې وايې خله، نو مجاهد به د دغه خيانتکر له اعمالو هره هغه نيکي را واخلي، کومه يې چې زړه غواړي. (مسلم)

کوم چا چې نه پخپله جنګ کې برخه واخيسته، نه يې د کوم مجاهد د جنګ مصرف برداشت کړ، نه يې د کوم مجاهد د کورنۍ حفاظت وکړ، نو دغه کس به د مرګ نه مخکې په يو لوی مصيبت کې ګرفتار شي. (ابوداؤد)

هر مسلمان د خپلې کورنۍ لپاره ډېر فکرمند وي، خو دا هغه خبره ده له کومې څخه چې شيطان سوء استفاده کوي، او د سړي په زړه کې ډول ډول وسوسې اچوي، تر دې چې له جهاد يې لرې وساتي، که يو څوک د شيطان په دام کې کېر نشي او جهاد لپاره له کوره راووځي، نو بيا ورته شيطان وار په وار راځي او د دغه مجاهد زړه کمزوری کوي، په زړه کې ورته دا وسوسه او فکر اچوي چې تا خپله خوږه کورنۍ په کوم حال کې پرېښوده؟

نو ځکه د مجاهدينو د اهل و عيال او کورنۍ د پالنې او ساتنې ذمه واري اخيستل د مجاهدينو سره ډېر لوی کومک دی، زړه يې مضبوط وي او پوره په اطمنان او بې فکرۍ سره په جهاد کې مصروف وي، ځکه رسول اللّٰه د يو بل سره د داسې کومک لپاره په کثرت سره مسلمانان راپارولي، چې مسلمانان نه بايد يواځې دا چې مجاهدينو سره د جنګ په ډګر کې مدد او مرسته وکړي بلکې د وروسته پاتې کورنيو حفاظت، ساتنه او کفالت دې هم پوره په ذمه واری سره وکړي، چې مجاهدين د کورنيو نه بې فکره له کافرانو سره وجنګيږي.

څومره د افسوس خبره مونږ ته رارسيدلي ده، چې نن

هر مسلمان د خپلې کورنۍ لپاره ډېر فکرمند وي، خو دا هغه خبره ده له کومې څخه چې شیطان سوء استفاده کوي، او د سړي په زړه کې ډول ډول وسوسې اچوي، تر دې چې له جهاد یې لرې وساتي، که یو څوک د شیطان په دام کې ګېر نشي او جهاد لپاره له کوره راووځي، نو بیا ورته شیطان وار په وار راځي او د دغه مجاهد زړه کمزوری کوي، په زړه کې ورته دا وسوسه او فکر اچوي چې تا خپله خوږه کورنۍ په کوم حال کې پرېښوده؟ نو ځکه د مجاهدینو د اهل و عیال او کورنۍ د پالنې او ساتنې ذمه واري اخیستل د مجاهدینو سره ډېر لوی کومک دی، زړه یې مضبوط وي او پوره په اطمنان او بې فکرۍ سره په جهاد کې مصروف وي، ځکه رسول اللّه د یو بل سره د داسې کومک لپاره په کثرت سره مسلمانان راپارولي، چې مسلمانان نه باید یواځې دا چې مجاهدینو سره د جنګ په ډګر کې مدد او مرسته وکړي بلکې د وروسته پاتې کورنیو حفاظت، ساتنه او کفالت دې هم پوره په ذمه وارۍ سره وکړي، چې مجاهدین د کورنیو نه بې فکره له کافرانو سره وجنګیږي.

څومره د افسوس خبره مونږ ته رارسېدلې ده، چې نن سبا د مجاهدینو د شاته پاتې کورنیو د حفاظت او کفالت پرځای خلک د هغوی خاوندانو او ځامنو ته بد رد وایي چې چا د ده دماغ خراب کړل؟

څنګه پاګل شو؟ امریکې سره ډغره او زور وهل مرګ ته دعوت ورکول دي، د کور خرڅ به مو څنګه چلېږي؟ که هغه مړ شو نو بیا به څوک ستاسې پوښتنه کوي؟ نعوذبالله من ذلک (الحمدللّه د ځبرځواکې امریکې ماته ټول امت مسلمه ولیده، چې څنګه اللّه یوه وړه ډله په لوی سپر پاور غالبه او برلاسې کړه، دا فقط د جهاد برکت و. (ژباړن)

۷_ شهید د کورنۍ کفالت کول

زما ورونو، زمونږ هغه شهیدان ورونه کوم چې د اسلام د بقا او د امت د حفاظت لپاره جنګېدلي، او چا چې زمونږ د دفاع په خاطر ځانونه قربان کړي، آیا هغه دومره غیر مهم وو، چې مونږ یې هېر کړو؟ نه هیڅکله نه، نو ځکه د شهیدانو د کورنیو عزت کول د هغوی خیال ساتل او ضرورتونه یې پوره کول اوس زمونږ ذمه واري ده.

له امام احمد ابن حنبل رحمه اللّه څخه روایت دی چې کله حضرت جعفر ابن ابي طالب رضی اللّه عنه شهید شو، نو رسول اللّه د حضرت جعفر رضي اللّه تعالی عنه ته ورغی او د هغه بي بي ته یې وفرمایل چې بچیان مو چېرته دي؟ ماته یې راوبله، کله چې ماشومان رسول اللّه ته راغلل، نو رسول اللّه ښکل کړل، کله چې د شهید بي بي حضرت اسماء رضی اللّه عنها دا حالت ولید، نو وې فرمایل: آیا کومه خاص مهمه خبره پېښه شوې ده؟ رسول اللّه وفرمایل: هو، نن حضرت جعفر رضی اللّه عنه په جنګ کې شهید شوی، حضرت اسماء رضی اللّه عنها فرمایي: چې کله ما دا خبره واورېده نو په ژړا شوم، بیا رسول اللّه زمونږ له کور څخه لاړ او خپلو بیبیانو او ازواج مطهرات ته یې وفرمایل: چې د حضرت جعفر رضی اللّه عنه د کور د خوراک او د نورو ضرورتونو خاص خیال وساتئ ځکه چې هغوی په سخت غم کې دي.

د شهید بچیانو ته د پلار د مینې ضرورت وي، او

دا مينه د پلار نه پس بل سړی هم ورکولای شي، همداسې د شهيدانو کونډې د دوهم واده نه منع کول ندي پکار، خو که د هغوی په خوښه وي، دا خبره زه ځکه کوم چې زمونږ په پوره مسلمه امت کې دوه رواجونه ختمول پکار دي، اول دا چې زمونږ په معاشره او ټولنه کې د کونډې او د طلاقې شوې ښځې په اړه منفي سوچ او رويه بايد ختمه کړای شي، له بده مرغه زمونږ په چاپېريال کې دا خبره بيخي عامه ده، کونډې او طلاقې شوې ښځې سره څوک واده نکوي، دا سلسله ختمول پکار ده، دوهم داچې په مسلمانانو کې د يو نه زيات ودونه ختم څه چې اوس يې خلک ډېر بد ګڼي، کنه د يو نه زيات ودونه کله وخت په جنګونو کې يو معاشي ضرورت جوړ شي، د دې منفي رواج له امله په دنيا کې زمونږ ډېرې خويندې د واده نه محرومې پاتې دي، پېغلې هم او طلاقې شوې هم، کنه د اصحابانو رضی اللّٰه عنهم په زمانه کې يوه ښځه هم داسې نه وه چې خاوند يې نه درلود، يانې هغه ملګری چې هغه يې د جسماني، نفسياتي او د معاشي ضرورت پوره کونکی وي، د حضرت جعفر رضی اللّٰه عنه د شهادت نه پس حضرت ابوبکر صديق رضی اللّٰه تعالی عنه د نوموړي رضي اللّٰه تعالی عنه له کونډې سره واده وکړ.

ادامه لري

عدم تشدد او جمهوريت

ليکوال: هاشم سادات



دا دواړه هغه شعارونه دي چې د پښتون قام او د هر مسلمان ځوان څخه يې خپله لاره ورکه کړې ده، او دا دواړه نعرې زمونږ کومې خپلې نعرې نه بلکې د بهر څخه ډېر په چل ول پښتون قوم ته د عدم تشدد فلسفه او عام مسلمانانو ته بيا د جمهوريت فلسفه را منتقل او پيپچکاري شوې ده.

عدم تشدد:

عدم تشدد د بې غيرتۍ دوهم نوم دی، مطلب چې يوځای چېرته د تشدد او زور ضرورت وي، او سړی يې نکوي دا ښکاره بې ننګي ده، د پښتون قوم په لاس کې چې کله ټوپک و، په ټوله دنيا يې د ننګ او غيرت کيسې کېدلې، خو اوس پښتون قوم د عدم تشدد فلسفې دومره کمزوری کړ، چې نور خلک پرې اوس داسې ډاډه ورځې لکه ظالم مېره چې په خپلې کمزورې ښځې ورځي.

او عجيبه خبره پکې لا دا ده چې د عدم تشدد فلسفې ګمراه لارويان ډېر په وياړ دا دعوی کوي چې مونږ د پښتون قوم رهبران يوو او پښتون قوم ته خدمت کوو.


اې د عدم تشدد فسلفې ګمراه لارويانو! يقين وکړئ چې تاسو د چرګې نه هم زيات کمزوري ياست، چرګه چې کله د خپلو وړو چرګوړو سره موجوده وي، څوک دا جرأت نشي کولای چې چرګوړو ته نږدې ور شي، که څوک نږدې ورتلل وغواړي، چرګه د خپلو بچيانو د دفاع په خاطر ببره شبره شي او تر خپله وسه د تشدد لاره اختياروي، خو په تاسو کې د چرګې دومره غيرت هم نشته چې د خپل نښتر نښتر ځوانانو مړي په سړک کېږدئ، احتجاج وکړئ، چيغې نعرې ووهئ، بس دا اوس ستاسو په نزد انتقام دی او دا ستاسو لوی غيرت دی او دا د پښتون قوم خدمت دی. که تاسو په ريښتيا ځانونه مظلومان ګڼئ او د ظالم څخه انتقام اخيستل غواړئ نو راځئ د تحريک طالبان پاکستان سره اوږه په اوږه ودرېږئ چې دا موجوده جمهوري نظام بدل کړو، تر څو چې دا ظالم نظام زموږ په وطن مسلط وي مظلومان به دغسې زورول کېږي، د تحريک طالبان پاکستان مجاهدين غواړي چې دا د ظلم نظام ړنګ او د دې په ځای يو پاک او سپيڅلی اسلامي نظام چې د انصاف څخه ډک نظام دی، په دې وطن کې قائم کړي. بيا به نه د پښتون سره ظلم کېږي نه هم د بلوڅو، پنجابيانو او سندي مسلمانانو سره؛ او که چېرته د تحريک طالبان پاکستان سره اوږه په اوږه نشئ ودرېدلای نو کم از کم مخالفت يې مکوئ.

جمهوريت:

جمهوريت هم د يو صحيح مؤمن مسلمان په نزد د بې غيرتۍ دوهم نوم دی. د بې غيرتۍ نوم ورته ځکه وايو چې که ستا په وړاندې څوک د اسلام او قران هر څومره توهين وکړي، خو جمهوريت تا ته دا اجازه نه درکوي چې ته د خپل دين دفاع وکړې.

کله چې د مسلمان په لاس کې توره وه، په توره يې د

قران او اسلام دفاع کوله، هغه وخت کې به د یو عام مسلمان په مخکې
د غیر مسلمو او بې دینه خلګو پښې له ویرې رپېدې او جرأت یې نشو
کولای چې د اسلام په خلاف څه وکړي.
خو کله چې کفار په ډېر هنر او چل او ول سره جمهوریت ته د اسلام جامه
واچوله، بیا یې مسلمانانو ته وراندې کړو، چې دا اصل اسلام دی، پدې
اسلام کې به قتال نه وي، ټول زور به د عوامو په لاس کې وي، بس
د هغې ورځې نه د مسلمانانو د ذلت ورځې شروع شوې، مسلمانان یې په
مختلفو وطنونو، نومونو په مختلفو پارټیو او ګوندونو تقسیم کړل، او
دومره یې کمزوري کړل چې کفار او د هغوی غلامان پرې اوس داسې ډاډه
